حق یا خون

بیانگر اهداف اتحاد اسلامی افغانستان



لبیك اللهم لبیك
لبیك لاشریك لك لبیك

مجاهدین تصمیم خود را گرفته اند

پوهاند سیاف

★ د کریملن او سپینی ماڼی حکومتونه هم پراخ بنسټی نه دی .

★ مونږ له نجیب سره د هیڅ چا منځګړتوب ته ضرورت نلرو.

زريني ورانګې

دويني نذرانه

مؤمن له خپل خدای سره متعهد دی چې د خدای دین ته به خپل سراومال او پخپل اولاد ترجیح ورکوی ، که داسی مواقع راشی چی ددین د سرلوړی پخاطر د سرومال قربانی ته ضرورت وی نو په مینه قربانې ته حاضریږی او دا قربانی دعبادت معراج ګڼی ځکه چی له خدای سره دمینی او اخلاص ښه څرګندونه ده او خدای تعالی چې له بنده نه څه غواړی هغه همدغه مینه او په بندګی کښې اخلاص دی .

د خدای دوستانو له همدغی لارې د خدای په وړاندی د قرب او نزدې والی مقام ګټلی دی د خدای ددین د اقامی پخاطر یې جهاد کړیدی ، شهیدان شو یدی او پخپلو پاکو وینو یې د اسلام بڼ او نیالګې خړوبه کړیدی او ښیرازه یې ساتلی دی چې یدې لړکښی د پیغمبر « ص » لمسی حضرت حسین «رض » د یزید سره پدې خاطر بیعت ونکړ چې هغه خلافت په مطلقه آمریت تبدیل کړی ؤ ، د عدل او انصاف پرځای ظلم او ډمانتداری پرځای غداری او خیانت روان وو ، د مسلمانانو بیت المال د عیاشیو په لار وکښې مصرفیده ، د خدای پرستی ځای شخصیت پرستی نیولی ؤ ، د حکومت عمالو د خدای د بندګانو د خدمت پرځای یوازې د یزید غلامی کوله او د خدای د رضاپرځای یې د یزید خوشحالی غوښتله چې دغسی کړنلاړې زغمل د حسین « رض » لپاره ناممکن ؤ هغه د اسلامی خلافت د اقامی او د یزید فاسد نظام د نسکورولو لپاره پاڅون وکړ چې په نتیجه کښې د او یاؤ نه زیات کسانو وینې د کربلا په دښته کښې توی شوی .

حضرت حسین « رض » د نړی مسلمانانو ته د قربانی او جهاد درس ورکړ ، داسی درس چې د مسلم امت بچیان به یې په هر دور کښې ور باندې عمل کوی . لکه چې همدا اوس د افغانستان مجاهد ملت د حسینی درس په پیروی د کفر او کمونیزم پرخلاف په مسلحانه جهاد لګیا دی او دسرومال هرراز درندې قربانی یې ورکړیدی او ورکوی یې خو په هیڅ شان دیته نه حاضریږی چې په مسلمان افغانستان کښې د شیطان نظام ټینګ شی بلکې ددولسو کلنو قربانیو په نتیجه کښې لله الحمد روسی ښکیلاك له رسوائی او ماتی سره مخامخ شو او مزدوران به یې هم که خدای کول پیر ژر محو او نابود شی او په افغانستان کښې به د خدای نظام برقرارشی .

(وماذلك على الله بعزيز)

(کشاف)

VZ N19/20



حقا پاڅون

بیانگر اهداف اتحـــاد اسلامی افغانستان

سال دوم/ شماره ۱۹-۲۰ ماه سرطان، اسد ۱۳٦۸هش

فهرست

۱- ســرمــقـــالـــه	٤
۲- پـیـام اسـتـاد سـیـاف	٦
۳- رهـنـمـود هـای فـقـه اسلامی	۱۰
٤- د مخابراتو له محترم وزیر سره مرکه	۱٤
٥- مصاحبه بامحترم وزیر صحت عامه	۱۸
٦- د سـکـر تـوغـنـد ی.	۲٤
۷- جـوانـــان مـســلـمـــان	۲۸
۸- نـجـیـــب څـــوك دی ؟	۳٤
۹- مـفـهـوم اصل قـومـیـت دراسلام	٤۷
۱۰- شـعـر وادب	٥۰
۱۱- راغلی لـیـکـونـه	٦۰

مسئول مدیر: ولی الله سلیم

هیئت تحریر: هائد، جهید، مموزی

با فرا رسیدن روز دهم محرم الحرام سال جدید ۱٤۱۰هــق که یوم «عاشوریٰ» نامیده میشود، درتاریخ شکوهمند اسلامی روزی است باعظمت و باجلال، که کارنامه های فراموش ناشدنی جانبازان مؤمن وپاسداران شریعت إلهی را دردل های مسلمانان یاددهانی میکند و برای امحای بساط ظلم و بیداد از روی زمین برای راهیان وپیروان خط سپاهیان صدر اسلام می آموزد که درمقابل ایادی ظلم چطور قیام نمود !؟

حضرت سید الشهداء حسین بن علی رضي الله عنهما سبط گرانمایهء سرور کائنات صلی الله علیه وسلم درین روز تاریخی عاشوریٰ در برابر یزید ولشکر ستم پیشه اش صف آرائی نموده درمیدان کربلا به مبارزه علیه گروه ظالم به مقابله پرداختند تا نوامیس الهی را از شرارت های چپاول گران وقت نجات دهد، تا آنکه نواسهء پیامبر گرامی اسلام(ص)، این علمبردار راستین راه یکتاپرستی بدست کثیف یزیدیان مظلومانه به شهادت میرسد. ما درحالیکه این روز تاریخی واسلامی را بزرگداشت مینمائیم وبه شهدای کربلا وقافله سالار آن حضرت حسین «رض» اتحاف دعا والتجاء رضوان را از پروردگار کرده به یاد ملت مؤمن ورنجدیدهء افغانستان افتیده لازم به تذکر میدانیم :

مسلمانان صدیق وفرزندان توحید ملت مستضعف ما چون یاران پاکدل وایثارگر پیامبر خدا(ص) وصابرین روز کربلا، ممثلین خط اصیل جهاد اسلامی درسرزمین خود اند، لله الحمد به تاسی از نقش پای سرور کائنات صلی الله علیه وسلم ونواسهء گران قدرش این جهاد را تا آخرین سرمنزل مقصود استمرار خواهند داد، تا یزیدیان بی دادگر ونمرودیان زمان را از پا درآورده ومحارم خداوندی را از گزند ووحشی گریهای آنها حفظ وحاکمیت مطلق ازآن خدا باشد.

بهتر است درجریان جهاد اسلامی وانقلاب توحیدی که برای محو عناصر فرومایه ولشکر شیطان بر پا شده است از پیام شهدای کربلا وکارنامه های دلیرانه آنها درس عبرت گرفته تمام نیرو وقوت جهادی خودرا علیه دشمن بسیج نموده وفرقه های ملحد ومنافق را از توانمندی فعالیت نابود سازیم، وبه حیث مؤمن ومتعهد انقلاب اسلامی افغانستان بادرنظرداشت اصول وپابندی به شریعت اسلامی سلاح های خودرا به طرف خلقی ها، پرچمی ها ودیگر گروه های مفسد ونامسلمان نشان گرفته ونگذاریم درین مراحل نهائی فتح وپیروزی که دشمن کافر سخت درهراس واضطراب است از برخورد های داخلی ما بهره گیر شوند تا خدای ناخواسته اهداف شوم وکفری آنها برآورده نشود!

سرمقاله

مه پرېږدئ چې ترخې تجربې یوځل بیا تکرار شي!

کوم خلك، پرګنې او حکومتونه چې له یولسو کالو راهیسې په افغانستان کښې د روسي کمونیزم د وحشت او د روان اسلامي انقلاب په رابطه څه وینې، اوري او لولي نو د فکر، هدف او عاطفې له لحاظه په درې ډلو باندې وېشل کیږي:

یوه یې هغه مخلصه او پاك زړې ډله ده چې زمونږ د جهاد خبرونه او جریانات په ډېر دقت او خواخوږۍ سره تعقیبوي. او چې کله د ټلو یزیون په پرده. د اخبار او مجلې په مخ. د راډیو له څپو او یا هم د ټلیفون له ګوشك څخه ددې قضیې په اړوند د فتح او برې خبرونه واوري نو بیائې له ډېرې مینې او خوښۍ څخه بې اختیاره د الله اکبر کفر لړزونکې ناره پورته او د عرش مالك ته د شکرانې پخاطر سر په سجده کړي. خو کله چې بیا د سکړ د توغندو، زهر جنو غازونو او د میګ وو یشت ډوله طیارو د بمبارد خبره یې ترغوږ و شي نو بیائې له وجود څخه د زړه سکون کډه په سر او خوب خندا روڅخه هیره شي. او همدا یوه خبره یې په خوله جاري وي چې: لو یه خدایه د افغانستان په سردرو کښې ددغې مؤمنې ډلګې پښې د حق پخاطر ټینګې کړه. او تر هغې د ناآرامۍ او تشویش په عالم کښې ډوب وي چې ترڅو د کومې فتحې او کامیابۍ زیرې ور باندې نه وي شوې.

دوهمه ډله د اسلامي امت او دافغانستان د اسلامي تحریك هغه نه پخلا کیدونکې دښمنان دي چې د اسلامي خلافت او د اسلامي حکومت له جوړیدو او د مسلمانانو د عظمت د پر یوتلې شملې له راپورته کیدو سره په هیڅ صورت کښې تعامل او توافق ته حاضر نه دي.

دوی هم په ډېر دقت سره د جهاد ټولې مرحلې تعقیب او د کره کتنې لاندې نیولي دي. له ابتداء څخه یې د یوې سپورتي لو بې د ننداره چیانو په څېر په ډېر زور او زوږ سره د تعجب او شاباسۍ لاسونه و پړکول او د وږ ونکو تبلیغاتو او پرو پاګنډې ترڅنګ یې زمونږ د مظلومیت سره خپل پیوستون اعلان او د تأیید اوازونه پورته کړل او دا لړۍ تر هغې روانه وه چې د واخان، سالنګ او سپین غر په دنګو څوکو کښې یې د وارسا او کمونیزم په سرې خور و لښکرو باندې خوا یخه شوه.

خو کله یې چې ولیدل چې دې تش لاسي او متوکل ملت د کریملن د بامبړانو د غرور پزه په مځکه ومښله او ددنیاوالو په وړاندې یې د ښکې په شان سپك سپاند او له خپل هیواد څخه یې په ډېر ذلت سره تیښتې او وتلو ته مجبور کړل نو بیا دغو لېونو او خود غرضو دښمنانو په ډېره بې صبرۍ او رسوائۍ سره په علنې ډول زمونږ د برحقې داعیې په ضد او د نجیب د تپل

شوی رژیم د بایښت او پوځی ځواك منیء د ړنګوری په غړولو باندی ګوتی پوری کړی ، ترڅو داسی وښودل شی چی ګوندی پوځی حل او د ټوپك په زور د نجیب له مینځه وړل ناممکن او مجاهدین د اقتدار وړ.ی او د سولی او امن سره علاقه نلری .

دریمه ډله یی هغه بی تفاوته ، لا و باله او په اصطلاح بی طرفان دی چی تر پرونه یی ددی جرائت پیدا نکړ چی ددغو دوو تل پاتی دښمنو طرفونو (اسلام او کمونیزم) له جملی څخه د یو طرف په څنګ کښی ودریږی بلکی دوی اصلا نه په کوم مبدأ ایمان لری اونه د اصولو څښتنان دی ، دوی که زمونږ د قضیی په هکله کوم معلومات هم لری هغه ورته د اسلام ددښمنانو لخوا تهیه کیږی . څوك چی د جهاد د مرستیالانو غوندی بی وسه او ناچاره نه دی .

دروسانو له ظاهری وتلو وروسته پیښو او جریاناتو په ډاګه کړه چی دغه بی طرفان هم ددښمن لیکوته ورتاو شول او په ګډه په دی هڅه کښی شول چی زمونږ عبوری حکومت چی ډیروستومانو هیلو او کړیدلو امیدونو په نتیجه کښی د تیر کال د حوت په میاشت کښی اعلان شوی په یوه غشی ښکار کړی .

هوکی : استعماری قوتونو د تل لپاره دا زیار و یستلی چی د نورو له وینو او خولو څخه د خپلو شومو اهدافو او ګټو د تأمین لپاره استفاده وکړی .

د روانی عیسوی پیړی په څلورمی ، پنځمی او شپږمی لسیزی کښی له (۱۹۴۰ څخه تر ۱۹۷۰) پوری ډیرو عربی او اسلامی هیوادونو له ایتالیا ، هسپانیا ، فرانسی او انګلستان څخه د اسلامی تحریکونو په قیادت او قوماندە ازادی ترلاسه او دهغوی استعماری جغ یی له خپلو اوږو څخه کوز کړ ، خو متأسفانه د قدرت واګی هغو بی دینانو او پلورل شوو شخصیتونو په لاس کښی ونیولی چی په اکسفورد او سوربون پوهنتونونو کښی په ځانګړو مواصفاتو باندی روزل شوی وو .

بناء اوس ددی وخت رارسیدلی دی چی ټول هغه جهادی قوتونه چی د فکر او انقلاب د اصالت دعوی کوی باید خپلی وسلی د هغه دښمن لوری ته وګرځوی کوم چی ددی نه جبران کیدونکی بربادی عاملین دی .

د جهاد قیادت او مشرتابه ته پکار ده چی خپل میانځی نزاکتونه او اختلافات له پښولاندی او په خپل ټول ثقل او قوت سره ددی اعلان شوی انتقالی حکومت ترشا ودریږی . نور د خپلو تنظیمونو کارونه د حکومت په چارو باندی چی ورسپارل شو یدی ارجح ونه شمیری ، بلکی د مربوطه وزارتونو دندی اصلی او دخپلو تنظیمونو چاری فرعی وګڼی ، داځکه چی په افغانستان کښی په فعلی شرایطو کښی هیڅ مشخص جهادی تنظیم په یوازنی توګه دحکومت کولو جوګه نه دی . د حل یوازنی لاره د افغانستان د انتقالی اسلامی حکومت پیاوړی کول او دعمل په ساحه کښی د هغه تائیدول دی ، دجهاد قیادت باید په ټولو مربوطو مسایلو کښی یو شان دریځ ونیسی ، په متحد صف کښی ودریږی او دیو پروګرام په چوکاټ کښی کار وکړی ترڅو د یوګړ قیادت لاندی د جهاد دا وروستی پړاو د خدای « ج » په مرسته او انقلابی زیرکی سره د بری معراج ته ورسیږی .

باید پري نه ښودل شی چی د خپلی قضیی ددی سرنوشت ټاکونکی مرحلی سیاسی نوښت او ابتکار د بل چا په لاس کښی ولویږی .

باید پری نه ښودل شی چی د خپل اسلامی معاصر تاریخ ترخی تجربی یوځل بیا په افغانستان کښی تکرار شی !

مجاهدین تصمیم خودرا گرفته اند

مادر حالیکه ازهمه کشورها وافرادیکه به اساس واجب دینی ویامشاعر بشر دوستی جهاد ماراتائید نموده ویاما همکاری کرده ویا بعد ازین درفکر همکاری هستند اظهار قدرداني میکنیم .

به همه اعلان میداریم که : تصمیم گیری به ارتباط آینده‌ء افغانستان که محصول خون پانزده لك شهید وچندین لك معیوب ونتیجه‌ء رنج ومحنت صدها هزار بیوه ویتیم ، وآوارگی پنج ملیون مهاجر وخرابي همه‌ء افغانستان است وبه دین ودنیای ملت مجاهد افغانستان ارتباط مستقیم دارد ، مربوط خود مجاهدین بوده ومجاهدین باساختن حکومت عبوري که ازطرف نمایندگان ملت به میان آمده تصمیم خودرا گرفته اند وهیچ کس بعد ازاین به ارتباط حکومت آینده‌ء افغانستان نباید به تقدیم طرح های جدید بپردازد چه طرحهای جدید ازیکطرف برعکس تصور یکعده مردمی که گویا جلو خونریزی را میگیرند ، خونریزی راده چند بیشتر خواهد ساخت وازطرف دیگر مداخله مستقیم در امور داخلی افغانستان پنداشته میشود وهمه باید بدانندکه تمام تلاشهای که بخاطر حل قضیه‌ء افغانستان درجهت مخالف خواسته ها واراده‌ء مجاهدین درکار است نه تنها مشکل راحل نخواهد کرد بلکه عواقب وخیم آن نه به نفع افغانستان ونه به نفع منطقه خواهد بود ودر نتیجه دشمنان ما ازان بهره برداری خواهندکرد .



اگر مردم دنیا علاقه دارند که قضیه‌ء افغانستان بدون استمرار جنگ حل وفصل شود ، اگرراستی به این امر دلچسپی دارند باید بالای روسها فشار رازیاد بسازند تا دست از تقویه وتائید چنان رژیم بردارند که ملت به هیچ صورت آنرا قبول ندارد وبه عوض آنکه درفکر طرح حکومت های جدید میباشند که به هیچ صورت مورد قبول مجاهدین نخواهد بود بهتر است حکومت مجاهدین را تقویه کنند تا مشکل به نحوی که ملت آرزوی انرا دارد زود تر حل شود ما یکبار دیگر ازهمه تقاضا داریم که داعیه‌ء حقه ملت مجاهد مارا بصورت مستمر تائید نموده ودر قضایای داخلی مربوط به مجاهدین به فیصله های مجاهدین احترام بگذارند وازان پشتیبانی کنند .

ودراخیر قابل تذکر میدانیم که حکومت مجاهدین نه تنها درد افغانستان رادوا میکند بلکه یگانه ضامن ایجاد فضای اخوت وبرادری وحسن همجواری در منطقه بوده وجلوهرنوع کید ومکر دشمن راکه هدف عمده‌ء آن تحریک برادر علیه برادر خواهد بود مثلیکه تاریخ چندین ساله قبل از جهاد شاهد آن است خواهد گرفت .

پوهاند سیاف

صدر اعظم حکومت اسلامی انتقالی افغانستان

د افغانستان د اسلامی اتحاد د حربی پوهنتون د
څلورمی دوری د رسم ګذشت څینی اړخونه





د حربی پوهنتون متصلین د یوی اغیزمنی
اسلامی ترانی د ویلو په حال کی لیدل کیږی

مجاهد ورور پوهاند سیاف او د
کابینی ځینی محترم غړی د لوژ
خواته تشریف وړی.

پوهاند سیاف . محترم محمدی او محترم جنرال
یحیی نوروز د لوژپ، برنی برخه، کی تشریف لری

سید نور الله عماد

د مخابراتو د وزارت مرستیال



استاد محمدعلی انصاری

د سرحداتو د چارو وزیر .

د عبوري حکومت مجاهد صدراعظم او ددفاع محترم وزیر فارغانو ته بري لیکونه او سوغاتونه ورکوي.

دعربي نړۍ مشهور خطیب او مجاهد عالم استاذ فتحي د رسم گذشت تماشه کوي.



رهنمود های فقه اسلامی پیرامون فریضه سترگ حج

بقلم : سالك

هرآنکه متمول باشد و توان و استطاعت رفت و آمد راه را داشته و حج نکند بمیرد بروفق فرموده رهبر عالم بشریت رسول اکرم (ص) خواه یهودی مرد یا نصرانی ، طوریکه از مضمون حدیث نبوی (صلعم) بر می آید زجر وتوبیخ شرعی در حق کسانی است که با وجود فراهمی شرایط حج از ین منسک عظیم اهمال واباه ورزد صادر شده بمثابه سرزنش و تهدید شرعی ای است که آنحضرت (ص) در حصهٔ جهاد ارشاد فرموده اند که مفادش اینست :

(هرگاه کسی بمیرد درحالیکه در راه خدا (ج) جهاد نکرده باشد و نه به نیت آن بوده ، بر یکی ازشعبه های نفاق مرد) اوکما قال رسول‌الله صلی‌الله‌علیه وعلی آله‌واصحابه و سلم

حج خانهٔ خدا (ج) پنجمین رکن از ارکان اسلام شمرده می شود این عبادت جهان شمول و اجتماعی نوید بخش فوائد و مراتب و مدارج عالی اسلامی و متضمن صلاح وفلاح مسلمانان و دارای حکمت های معجز نما میباشد و بر افراد مؤمن فرض شده که در هیچکدام از ادیان و مکاتب بشری نظیر ندارد . حکمت محیرالعقول اجتماعی حج همانا جمع انبوه کثیر مسلمین و مسلمات سرا سر جهان میباشد که جهت اداء فریضهٔ حج به کعبه معظمه که قبلهٔ عامهٔ مسلمانان بعد از بیت‌المقدس است به طواف آن لبیک گویان مراتب عبودیت و بندگی خویشرا به پیشگاه پروردگار (ج) انجام میدهند . در حالیکه همه در حلیهٔ احرام و لباس های سفید یکسان بدون امتیازات نژادی ، ملی ، طبقاتی ، منطقوی ملبس میباشند و عاشقانه دور را دور کعبه می گردند که مصداق نداء ملکوتی حضرت ابراهیم‌خلیل‌الله (ع) و اجابت دعای آنحضرت میباشد .

خداوند (ج) حضرت ابراهیم (ع) را مأمور ساخت طوریکه در قرآن حکیم ارشاد شده‌است . برین معنی ! (و آواز بده در میان مردم برای‌حج که بیایند پیش تو پیاده و بر هرشتر لاغر می آیند از هر راه دور) سورهٔ‌حج آیهٔ - ۲۷

سپس : الله تعالی فرمان داد :

« ولیطوفوا باالبیت العتیق »

آیه ۲۹ حج (وطواف کنند به آن خانه قدیم) تفسیر کابلی در توضیح

آیهٔ مبارکه می نگارد : از شروع لبیک گفتن (احرام بستن) حجامت نمیکنند ناخن نمی گیرند ، به بدن خود روغن نمی مالند و چون بدن باچرک و گردو غبار آلوده می شود بدن خود را خوب مالیده غسل نمی کنند این وضعیت را میتوان یک حالت عاشقانه و مستانه نامید که در راه محبت الهی (ج) اجرا می شود . بالاخره بتاریخ دهم ماه همه کار تمام می شود حجامت (خون کشیدن) غسل و پوشیدن لباسهای دوختگی جواز دارد وبه طواف زیارت میروند درین مبحث ناگزیریم تا فرائض حج بیان گردد تابه شایقین بیت الله و عازمین حرمین معظمین تحفهٔ علمی پیشکش نموده باشیم .

فرائض در حج سه چیز است :

(۱) بستن احرام از میقات (زمین حل) احرام بستن در هر کشور و هر مملکت نظر به وسائل حمل و نقل فضائی و زمینی تعین میگردد و برای اهالی مکهٔ مکرمه مدینهٔ طیبهٔ و دیگر اوطان هم سرحد حجاز (عربستان سعودی) تخطیط و تعین شرعی وضع گردیده است لذا در حرم بدون احرام داخل شدن قطعاً جواز ندارد . و بر متخلف مجازات مالی ، «دم» واجب میگردد .

(۲) وقوف در عرفات : ایستاده شدن حاجی در کوه عرفات بعد از اداء نماز پیشین و دیگر که جمعاً و قصراً به یک اذان و دو اقامت در مسجد (نمره) مبارکه بر پا میگردد از ارکان حج بشمار میرود در (جبل عرفات) بذکر و ثنا و نیایش خداوند بزرگ تا غروب آفتاب مشغول میباشند در حالیکه رو بروی خانهٔ کعبه و جبل النور ایستاده شده و آداب اسلامی و موقفی را جداً رعایت کنند سپس از عرفات شریف حجاج به مزدلفه نزول کرده و در مشعرالحرام شرفیاب میگردند ناگفته نماند که نماز شام و خفتن در مزدلفه جمعاً اداء میشود .

(۳) طواف زیارت از فرایض حج میباشد

که طواف در روز اول عید پاداش بزرگ داردو درصورت عذر به روز دوم و سوم نیز جواز دارد .

برای خوانندگان ارجمند پوشیده نباشد که خداوند متعال (ج) تکلیف شرعی را بر بندگان حسب توان و طاقت بشری آنها از قبیل امکانات مالی ، بدنی صحی و غیره وضع فرموده اند و معاذ بر بندگان را نسبت به واجبات اسلامی و دینی مورد پذیرش خویش قرار میدهد (انه عفو غفور) بتحقیق خدا بخشنده و درگذرنده از معاصی بندگان میباشد .

بدین ارتباط در آیهٔ منصوص دیگر تصریح فرموده اند :

«لا یکلف الله نفساً الا وسعها»

یعنی : خداوند جل جلاله و عم نواله هیچ صاحب نفس را مکلف نمی گرداند در اتیان فرائض و واجبات مگر به اندازه طاقت وتوان او) زیرا انسان با وجودیکه اشرف مخلوقات و اکمل موجودات در جهان بوده و تسخیرات مستقیم را بر کائنات خداوند (ج) نصیبش کرده با آن هم از عنصر نا چیز (خاک) آفریده شده و ضعیف و ناتوان است در قرآن کریم دربن باره به عبارة النص میفرماید .

« و خلق الانسان ضعیفا »

که دلالت به ضعف آفرینش آدمی میکند . بنا بر تمهیدات فوق در هر فریضه اسلامی یک سلسله قواعد و نصاب و حدود عملی اجرائی احکام تعین گردیده که هر صاحب بصیرت و دانش مآب از آن مطلع میباشد . در سفر خجسته و فرخندهٔ حج نیز حد تکلیف وجود دارد که خدای لا شریک (بطریقه شرطیهٔ معنوی خطاب فرموده اند .)

(من استطاع الیه سبیلا)

کلمهٔ من متضمن معنی شرط بوده یعنی کسیکه طاقت و توانائی حج و توشهٔ ما یکفی زاه و راحله را داشته باشد .

پس مبادرت ورزد و درصورت عدم طاقت و قدرت بروی فرض نیست . از آیهٔ مذکور درویشان بی نوایان ، مساکین و فاقدین توشه و راحله شرعاً از اداء حج معاف اند .

درین و هله حدیث مرور کائنات (ص) را برای استشهاد در فریضه حج بالای زنان و اهتمام اولیاء ومحارم زنها به اداء کردن حج سزاوار یاد آوری است .

مداول حدیث پیامبراکرم (ﷺ) بر این معنی است (در مورد جهاد زنها ، از آن حضرت (ص) استفتاء بعمل آمده بود که آیا بر ایشان فرض است و یاخیر ؟ در پاسخ رسول خدا (ج) فرمودند «جهاد کن الحج» الحدیث یعنی جهاد شما (زنها) رفتن به حج بیت الله شریف است لذا برای شارفین وزائرین حج توکیداً خاطر نشان میگردد که حقوق زنها را در اداء حج نیز مدنظر بگیرند .

خداوند یکتا و بی همتا (ج) در آیه های ۲۶ - ۲۹ سورهٔ حج هدایات واضحه آتی را جهت اثبات فریضهٔ حج و عمارت بیت الله شریف چنین فرموده اند :

« واذبوأ نالا براهیم مکان البیت ان لا تشرک بی شیئاً وطهر بیتی للطائفین و القائمین و الرکع السجود»

ترجمه : و (یاد کن) چون معین کردیم برای ابراهیم (ع) موضع خانهٔ کعبه راکه شریک نگردان بامن هیچ چیز را و پاک کن خانهٔ مرا برای طواف کنندگان و قیام کنندگان و رکوع کنندگان سجده کنندگان) در تفسیر آیات مبارکه مفسرین جیدچنین فرموده اند ! گویند که محل کعبهٔ شریف از اول مقدس و متبرک بوده ولی بعد از مرور قرن های متمادی ازین مقام نشانی باقی نماند ، حضرت ابراهیم (ع) از طرف خداوند (ج) مأمور شد تا بیت الله را تعمیر کند و موقع آن مقام مقدس باو نشان داده شد ، حضرت ابراهیم (ع) پسر خود اسماعیل (ع) را در تعمیر خانهٔ کعبه باخود شریک ساخت . در روایات منقول است که خانهٔ کعبه بموازی (بیت المعمور) که در آسمان هفتم است و فرشتگان در آن بذکر وتسبیح و عبادت خدا مستغرق اند واقع میباشد و بنای کعبه شریف تاکنون یازده مراتب صورت گرفته است که نخستین بار ملائکه (ع) به امر خداوند (ج) کعبه را عمارت کرند و آخرین بار بناء ابراهیمی (ع) میباشد

وعلت تکرار عمارت کعبه سرازیر شدن سیلابها و حوادث زمان میباشد .

تفسیر کابلی در مورد آیهٔ تلاوت شدهٔ « واذن فی الناس بالحج » می نویسد :

چون کعبهٔ شریف تعمیر یافت حضرت ابراهیم (ع) بر فراز کوهی ایستاده و مردم راصدا کرد : ای مردم ! خدا (ج) حج را برشما فرض کرده است به حج بیائید حق تعالی این آواز را در هر طرف بهر روح رسانید این مثل بلا تشبیه نمونهٔ آن است که مادرین زمان بجای خود نشسته ایم و آواز دورترین نقاط جهان را می شنویم پس شخصیکه حج برایش مقدر بود روح او لبیک گفت در حقیت همان آتش بوشید و عشق است که هزاران مردم بازحمت ها و مشقت های تمام بعضی پیاده حاضر می شوند و بسا مردم از چنان مسافه دور می آیند که شتر ها مانده و راحلهٔ شان خسته و لاغر می شود این وضع گویا تاثیر مقبولیت دعای حضرت ابراهم (ع) میباشد .

طوریکه از خداوند (ج) خواست «فاجعل أفئدةمن الناس تهوی الیه » در سلسلهٔ دیگر دعاهای ابراهیم (ع) از قبیل گردانید مکه معظمه را مقام امن و فراوانی رزق و میوه های متنوع که در کتاب الله ذکر شده است .

وجه تسمیهٔ (کعبه ، بیت الله ، عتیق) به وجوه ذیل میباشد که برلف ونشر غیر مرتب بیان میگردد .

(۱) لفظ عتیق که درقول الله تعالی صفت واقع شده است برای کلمهٔ (بیت) به معنای دیرینه وقدیمی است ونزد بعضی از مفسرین کرام تخصیص لفظ عتیق ازین سبب است که هرقوتی که غرض (العیاذ بالله ویرانی این خانه

اقدام کند خداوند(ج) آنرا مانع شده وازکامیابی آن جلو گیری مینماید تا زمانیکه الله تعالی (ج) بخواهد خرابی آنرا .

واقعهٔ اصحاب فیل برهمه معلوم است که‌خداوند (ج) برای رسول گرامی خود درقرآن حکایت فرموده عاقبت لشکرا برههٔ ستمکر وطاغی که به‌عزم تخریب بیت‌الله شریف‌مجهز گردیده بودند توسط (ابابیل) مرغان گروه گروه وانداختن گل پخته برسر سپاهیان ابرهه‌همه را هلاک کردند که درسورهٔ (فیل) یاد آوری شده است .

(۲) بیت‌الله نسبت خانهٔ کعبه شریفه به بیت الله تعظیماً بخداوند منسوب است ورنه خداوند ازمکان‌منزه است طوریکه نسبت عرش بخداوند (ج)نظر به عظمت شان او تعالی گردیده‌ونظر به آیهٔ شریفه خداوند کعبه را بکلمه (بیتی) یعنی خانه من ، بیان‌فرموده است واین نسبت تشریفاً وتکریماً میباشد . ذات واجب الوجود درهمه جا حاضر وناظر وواحد وشاهد است

(۳) کعبه در اصل لغت بلندی‌شئی را گویند طوریکه (کعبین)دو استخوان برآمدگی پای را ازجهت رفعت وبلندی اش گفته میشود وبیت الله را برای رفعت وبلندی آن حساً ومعناً کعبه گفته میشود واز جهت آنکه گسترش زمین از کعبه آغاز شده ومرکززمین میباشدطوریکه مکه را(ام‌القری)نامیده اند .

حاجی بالباس احرام به سر زمین حرم شریف که شهرخدای‌تعالی‌ومحل امن وامان میباشد داخل شود هرگاه ازمسافه دورخانه‌های‌مکهٔ‌معظمه‌نمایان گردیدبگوید **اللهم‌اجعل‌لی بها**

قراراً وارزقنی منها حلا لاً

خداوندا ! درین مقام برایم‌قرارگاه راحت مهیاکن واز رزق حلالش نصیبم فرما. بعدا بوسیلهٔ‌مطوف(معلم‌ورهنمای حج وعمره) ویا دانشمندی فقهی‌خود حاجی از باب السلام و اردمسجد الحرام گردد بمجردیکه چشمانش خانهٔ خدارا دیدبگوید (بسم‌الله ، الله‌اکبر) وآغاز طواف را از حجرالاسودنماید در اصل حجرالابیض بود وآن‌سفید سنگی بود که ج[illegible] (ع)بامرکردگار از بهشت آورده وبر کنج‌بیت‌الملتزم نصب شده وعهد گاهی است که روز محشر بحضور پروردگار اززائرین و حجاج شهادت میدهد و بمرور زمان چون گناهان مردم آلوده‌شد سفیدی آن به سیاهی مبدل شدوجوهری است گرانبها ودری‌است کیمیاکه‌وجود گناه آلود را صیقل بخشیده وپاک میکند (هفت‌مرتبه طواف را در گرداگرد کعبه انجام بدهد وادعیهٔ ماثوره‌که‌در هر شوط درکتب حج وزیارت ثبت است بخواند ودر هر گردش‌درصورت امکان حجرالاسود را بوسه کند واگر ازدحام باشد ویاتکلیف اذیت دیگران احساس می گردید فقطبا بلندکردن دست وگفتن (بسم‌الله ، الله‌اکبر)اکتفا نماید وبعداً هر دو دست خودرا ببوسد .

هرگاه‌از (۷) بار طواف‌فارغ‌گردید در مقام حضرت ابراهیم خلیل‌الله‌رفته دورکعت نماز رابگذارد واین نمازواجب است . وسپس به صفا رفته بگوید .

(ابدأ بمابدأالله)

شروع می کنم بآنچه خدا (ج) ابتدا فرموده است وباز آیهٔ مبارکهٔ

(اِنَّ الصَّفا والمَروَةَ)

تلاوت کند و هفت بار بین صفا ومروه رفت و آمد نماید طوریکه دراشواط سرعت واعتدال هردورعایت گردد پس ازختم سعی بین صفاومروه حاجی در صورتیکه حج تمتع رانیت کرده بود باترا شیدن سر و یا کوتاه کردن از احرام می برآید وبرای ایام حج روز هشتم ذوالحجة دوباره احرام می بندد . ازخداوند تعالی مسئلت داریم که مناسک حج و عمرهٔ همهٔ زائرین و حجاج حرمین شریفین رامقبول نموده و تمام مجاهدین و مهاجرین اسلام را بر دشمنان سرخ وسیاه مؤفق وغالب گردانا د شهدای گلگون کفن رااسلام و بازماندگان و ایتام را مورد رحمات خویش قرار داده و سر انجام‌به‌آرمان دیرینه خود که اقامه نظام الهی و شریعت پیامبر بزرگوار است در سر زمین بخون‌خفته مابرپاشده نایل‌شویم و حکومت جدید التاسیس مجاهدین‌را در افغانستان استحکام بخشد و وطن محبوب مارا از چنگال اژدهای سرخ روسی و اجیران آنها و سایر طواغیت جهان رها ساخته و امت اسلامی را تحت یک قیادت و وحدت‌کلمه وصف منظم سازد .

د افغانستان د اسلامي اتحاد نائب امير او د اسلامي انتقالي حکومت د مخابراتو مجاهد وزير ورور انجنير احمدشاه احمد زی پدی ورستيو وختو کښې د پکتيا لوگر او کابل د ولايتونو له پنځه ويشت ورځني جهادی سفر ځخه راستون شو.

بناء دحق پاڅون اداری ضروری وگڼله چې له دوی سره د خپلې سرنوشت ټاکونکی قضيې او د اسلامي انقلاب ددی حساس پړاو په رابطه د ورستيو پيښو او جرياناتو په پام کښې نيولو سره لاندينی مرکه تر سره کړه، چې دادی د درنو لوستونکو په خدمت کښې ئی وړاندی کوو.

مرکه: ابو حمزه

حق پاڅون: محترم انجنير صاحب تاسوځه موده د مخه د کابل د ښار په امنيتي کمر بندونو او خواوشا عسکری سيمو باندی د جهادی عملياتو د مستقيمې سر پرستی او دمجاهدينو د مشکلاتو او غوښتنو د معلومولو پخاطر له نوموړی ولايت ځخه ليدنه وکړه، هيله ده چې ددغی سيمې د مجاهدينو په پوځی ستراتيژی باندی رڼا واچوی!

ځواب: بسم الله الحمد لله والسلام على رسول الله، دښمن له پوځی ناحيې ځخه ډير کمزوری اومورال يې خورا ډير ټيټ دی، ما د کابل د جنوب شرقي کمر بند چې له سروبی ځخه ترچار آسياب پوری امتداد لری له نژدی ځخه وکوت او د مجاهدينو د محلي قوماندانانو سره مې په دی رابطه يو سلسله غونډی درلودی چې د هغې په رڼا کښې ځينی عملي گامونه پورته شول چې نتيجه يې خورا ډيره مطلوبه او په زړه پوری وه.

مجاهدين اوس د خپلې لس کلنې محاربوی تجربې په درلودلو سره له پخوا زيات غښتلي، په وسلو سمبال او له جنگی تاکتيکونو سره ښه آشنا دی، دوی فعلا د عسکری استحکاماتو او ترانسپورتی لارو د جوړولو ترڅنگ د مهماتو او غذائی موادو په ذخيره کولو، د حکومتی تدارکاتی لارو په بندولو او د چريکی عملياتو پرځای د جبهوی او مخامخ جنگ لپاره په مناسبو ترتيباتو او تدابيرو نيولو باندی مشغول دی.

بايد وويل شی چې: مجاهدينو په پوره اخلاص د عمومی عملياتو لپاره يو منظم پروگرام جوړکړی چې انشاء الله ډير ژر به د يوی گډی قوماندی ترقيادت لاندی پيل شی.

حق پاڅون: د کابل فتح به د پوځی حل له لحاظه ځومره وخت ونيسی؟

ځواب: ما مخکی اشاره وکړه چې دښمن ته هيڅ نه دی پاتی او بيرونی طاقتونه هيڅکله هم ازاد او په خدای مين ملتونه د تل لپاره په خپل ښکيل کښې نشی ساتلای، او نه هم د يوی اوږدی مودی لپاره روسان ددی ورانوونکی جنگ مصارف تحمل کولای شی، نوبناء و يلای شم چې ددی رژيم عمر ډير لنډ او د ملت په مينځ کښې ورځ په ورځ تجريد کيږی.

ولی زه په پوره باور سره و يلای شم چې زمونږ د مسئلی حل لوموړی د لوی خدای په نصرت پروسه او دو يم په دغه تپل شوی رژيم باندی پوځی فشار او د جهاد استمرار دی ولی يواځنی عامل چې د عاجلی وروستی فتحی مانع گرځی هغه عبارت له هغه روسی دوله په سلگونو زره ضد پرسونل ماينونه دی چې د مجاهدينو پرمختگ ټولی لاری ور باندی بنکی دی خوبيا هم مونږ په عمل مکلف يو نه په نتائجو.

د جلال آباد فتح ولی دومره اوږده شوه؟

ځواب: ددی فتحی په خلاف نړيوال سازشونه کيږی او ډيردی ترشا ځينی لاسونه کار کوی ترڅو د مجاهدينو د توقع او ادعا

برخلاف دنیا والو ته داسی وښودل شی چی مجاهدین نشی کولای د نجیب حکومت د ړوپټ په زور نه پښو راوغورځوی نو باید دغه یولس کلنه خونړی جګړه د ګردی میز ترشا د سیاسی خبرو اترو له لیاری حل او فصل شی . ولی ټول پوهیږی چی مجاهدینو دغه جنګ ګټلی او د مزدور حکومت قواوی یی په پنځه کیلومتره مربع ساحه کښی د پنځو میاشتو لپاره په مسلسل ډول په محاصره کښی ساتلی دی چی دا دمجاهدینو د عسکری ځواك او برلاسی بهترین ثبوت دی .

حق پاځون : د ملګرو ملتونو ددی پیشنهاد په هکله مو څه نظر دی چی وائی (د نوو افغانی مهاجرینو لپاره دی په داخل کښی ددغه نړی وال سازمان د نګرانی لاندی یوه خلع سلاح منطقه تاسیس شی) ؟

ځواب : متأسفانه ددغه نړیوال سازمان دا پیشنهاد،واقعی بڼه نه لری او نه هم مونږته د منلو وړدی ، مونږ له دوی سره هر ډول همکاری ته چمتو یو خو پدی شرط چی زمونږ له مشروعو اهدافو او غوښتنو سره ځان په ټکر کښی وانچوی . مونږ خپل مشکلات اوستونزی له نورو څخه ښی پیژنو ، دوی باید د جنیو د تړون څخه پند اخیستی وای چیرته چی مجاهدین ددی ملت د نمایندګانو اود افغانستان د وارثانو په صفت ونه پیژندل شول .

حق پاځون : په خواشینی سره باید وویل شی چی ددی جهاد ډیر نژدی خوا خوږی او دوستان هم په دی شپو ورځو کښی د سیاسی حل او د څه واخله او څه پریږده په تعامل باندی ټینګار کوی ، ایا په دی هکله څه و یل لری ؟

ځواب : مونږ له هر چا څخه زیات د سولی او جنګ بندی غوښتونکی یو او پخپل رنګ هیواد کښی امنیت او قراری ته ضروت لرو ، مونږ د خپلی قضیی د عملی حل په لټون کښی یو ، او پیشنهاد شوی سیاسی حل . . . د قضیی معقول حل نه دی . پدی معنی چی د سیاسی حل په نتیجه کښی به دغه په لکونو مسلح مجاهدین ددومره قربانیو سره سره د بل چا د ارادو محکوم او د هغي په نتیجه کښی به د افغانستان ملی حاکمیت او مځکنی سلامتیا او بشپړتوب ته په جدی توګه خطر متوجه شی ، نو بناء مونږ دغسی سیاسی حل د تل لپاره ردوو او منلو ته یی په هیڅ ډول شرایطو کښی تیار نه یو . زه په ډاګه وایم چی ددغسی نا معقول حل منفی اثرات به ټوله سیمه کښی سیاسی عدم استحکام راپیدا کړی

مونږ له نجیب سره د هیڅ چا منځګړتوب ته ضرورت نلرو

حق پاځون : په ایران کښی میشته اته ګونی شیعه ائتلاف ولی په عبوری حکومت کښی برخه وانخیسته ؟

ځواب : ځکه د هغوی ځینی غوښتنی غیر عملی او وخت یی تیر شو یدی ، ولی بیاهم ددی حکومت دروازی د دوی په مخ پرانستی دی .

حق پاځون : له نجیب سره د یاسر عرفات د مینځګړتوب په باره کښی موڅه نظر دی ؟

ځواب : موږ د نجيب سره نه د دوستانو منځگړتوب ته ضرورت لرو اونه د ياسر عرفات غوندي اشخاصو ، چا چې په تيرو يولسو کالو کښې د کابل د گوډاگيانو سره خپل زړه سوی له چا څخه نه دی پټ کړی او په ټولو محلی او بين المللی سازمانونو او غونډو کښې يې د مجاهدينو په خلاف دريځ غوره کړيدی .

په ايران کښې د ميشته اته گوني ائتلاف غوښتنې غير عملی دی

حق پاڅون : د مخابراتو د وزارت کار ونه تر کوم ځايه پرمخ تللی دی ؟

ځواب : زما په فکر د مجاهدينو په لاس کښې فعلی مخابراتی ارتباطات د وزارت دفاع کار دی نه د مخابراتو ، ولی بياهم په ځينی آزادو ولاياتو کښې زموږ د کار لپاره زمينه په نسبی ډول مساعده ده او د امکانياتو د موجوديت په صورت کښې به ور باندی کار پيل شی د وزارت اداری شوری او د لوړو پوستونو تعينات ترسره شوی او نور يې جريان لری ، ولی دايوه خبره بايد په پام کښې ونيول شی چې زموږ د وزارت ټول کار ونه لکه ټيليفون ، ټيلگراف اوپوسته د هيواد دننه کښې فعالول غواړی نوځکه موږ په موجوده شرائطو کښې له يو لړ ستونزو سره لاس په گريوان يو .

حق پاڅون : داسی ويل کيږی چې روسی قواوی بيا افغانستان ته د نجيب د مزدور حکومت د مرستی لپاره راغلی دی ، دا خبره ترکوم ځايه صحت لری ؟

ځواب : دا خبره نوی نه ده روسانو د خپلی تيښتی او وتلو په وخت کښې دوه زره پوځی مشاورين د پرمخ تللی وسلی د استعمال او ددی تحميل شوی جنگ د کنترول او رهبری لپاره په کابل کښې پری ايښی ؤ او د جلال آباد په عملياتو کښې هوائی بمباری او دسکاډ توغندی د روسی مشاورينو لخوا وېشتل کيږی او ددولت ټول شفرونه اوعسکری رازونه د روسانو او هندوانو لخوا سوق اواداره کيږی .

حق پاڅون : له څلورو اسلامی هيوادو پرته اسلامی نړی او امريکا زموږ اعلان شوی عبوری حکومت ولی په رسميت ونه پيژاند ؟

ځواب : له موږ سره هم دا سوال مطرح دی چې د نه پيژندنې عامل څه شی دی ؟ ولی يوه خبره چې ټولو ته ښکاره ده هغه داده چې ځينی هيوادونه د خپلو مصالحو تأمين په نظر کښې لری ، څوک داسلامی حکومت له جوړيدو سره حساسيت لری او ځينی نور يې د لو يو قدرتونو سترگی ته گوری امريکا اوغربی نړۍ له يوی خوا وائی چې د افغانستان د حکومت جوړول د افغانانو کار دی خوله بلی خوا وائی د

مجاهدینو حکومت پراخ بنسټی نه دی ، روسان هم په خپل واک
په راتلونکی حکومت کښی د خلق دیموکراتیک بدنام ګوند په
ګډون باندی بی ځایه اصرار کوی ، خوله نیکه مرغه زمونږ
مجاهد ملت د یوی پراخ بنسټی مشورتی شوری چی د ملت

دکرېملن او سپینی مانی حکومتونه هم پراخ بنسټی ندی

دپراخو پرګنو نمایندګان او ممثلین په کښی شامل ؤ د انتخاباتو
په نتیجه کښی یو مؤقت اسلامی حکومت تشکیل کړ چی دا
پخپله د مجاهدینو د سیاسی تدبر او عسکری ځواک بهترین
مظهر دی .
که چیری زمونږ دا حکومت پراخ بنسټی نه وی نو بیا د سپینی

مانی او کرملین حکومتونه هم پراخ بنسټی نه دی ځکه په
کرملین کښی له ۷۲ کالو راهیسی یو ظالم او طاغوتی ګوند د
قدرت واګی په لاس کښی لری او د سپینی مانی په حکومت
کښی هم نه د مسلمانانو نمایندګان شته ، نه د سرو هندوانو او
نه د نورو اقلیتونو ممثلین .

حق پاڅون : د افغانستان داسلامی انتقالی حکومت د مخابراتو محترم وزیر صاحب په پای کښی د حق پاڅون درنو لوستونکو ته څه پیغام لری ؟

ځواب : زه خپل پیغام په دوو ټکوښی خلاصه کوم : ۱ ــ د جهاد په دی حساس پړاو کښی دی نه مایوسه کیږی ځکه خدای «ج » تر هرڅه لوی او د حق ملګری دی .
۲ ــ باید د خپل ژوند ټول اړخونه په اسلامی اصولو سمبال او په خپل مینځ کښی د ورورولی ، خلوص ، همکاری او یووالی ریښی ټینګی کړی .

وزیر صحت عامه :

هیچ مؤسسه نمی تواند که بدون ثبت نام و اجازه نامه وزارت صحت عامه حکومت انتقالی در کمپ های مهاجرین ویاهم در داخل کشور عزیز مافعالیت نماید.

گزارش محمد نصیر مدبّر



به سلسله گفت وشنودها این بار خبرنگار ما باوزیر صحیه حکومت انتقالی اسلامی

افغانستان مصاحبه ای انجام داده که توجه خوانندگان را به آن معطوف میداریم.

سید محمد نادرخرم درجواب این سوال خبرنگار ما که مدت شش ماه از تشکیل حکومت انتقالی اسلامی می گذرد لطفاً درکارهای مربوطهٔ وزارت روشنی بیاندازید چنین گفت :

ج - وزارت صحت عامه الحمد لله بههمکاری دولت اسلامی افغانستان موظف شده تا کارهای خود را پیش ببرد که روی همین منظور وزارت صحت عامه یکی ازوزارت های فعال دولت اسلامی انتقالی افغانستان به حساب میرود اکنون درشو رای وزارت تقریباً ٤١ رئیس ازجمله ٤٣ ریاست که ما داریم تعیین شده و این برادران تشکیلات هسته پایان خود را هم ترتیب کرده اندانشاء الله تعالی بهزودی بهکارهای خود آغاز میکند این ٤١ نفر که تعیین

شده اسمای شان قرارذیل است :

۱ -داکترفضل‌ربانی رئیس عمومی طب معالجوی ۲-داکترشفیع صدیقی رئیس عودت مهاجرین ۳-داکتر اسدالله شینواری رئیس مجادله ملاریاولشمانیا ۴- داکترناصراحمد صافی رئیس خدمات اساسی صحی ۵ - داکترعبدالرحیم تارشی رئیس ارتباط خارجه ۶-دکتور فیض الله کاکړرئیس عمومی طب وقایوی ۷-دکتورسیدمحمدامین فاطمی رئیس عمومی صحت‌عامه ۸- دکتورغلام سخی ترابی رئیس ریاست معلولین ۹ -دکتور سعیدالدین شرفزئی رئیس تبرکلوز . ۱۰- دکتورمحمد اعظم افضلی رئیس ریاست مالی ۱۱ -دکتوربشیراحمدسمیعی رئیس دیپوی ادویه ۱۲- دکتور سلیم ایوب رئیس حمایه طفل‌ما در .

درباره ادغام کمیته های صحی تنظیم های اسلامی محترم خرم گفت:

درطول دوهفته هیئت‌های به کمیته های تنظیم ها اعزام مینمائیم تا در دور تسلیمی اجناس منقول و غیر منقول متعلق به‌این کمیته ها به حکومت به طور عملی اقدام

نمایندمکاتیبی به تنظیمهافرستاده‌ایم در بخش اداری ازآنها صرفاً شکل ونحوه کار آنهارامطالبه کرده‌ایم تا معلوم شود که به چه اندازه پرسونل دارندویامثلاًروش کارشان چه قسم است .

وزارت صحت عامه به کسانیکه آنها درمسایل صحی واداری وارد هستند ضرورت دارد وزارت‌صحت عامه که فعال شود پرسونل ...

وزیرصحت عامه حکومت‌انتقالی اسلامی افغانستان در باره طرزکار آن‌وزارت‌درداخل‌افغانستان گفت :

البته حکومت درنظر دارد که تدریجاًوزارت خانه‌ها رادر داخل افغانستان فعال نماید وماهم هنوز ریاست‌های خودرا ومرکزوزارت را در داخل افغانستان میبریم جائیکه ازطرف دولت‌تثبیت‌میشود وفعلاً مامیخواهیم ریاست ها و آمریت های عمومی صحت عامه ولایات‌را درداخل افغانستان‌فعال نموده وپروگرامهای در رابطه زیر دست داریم .

فعلاًصحت‌عامه‌درداخل‌افغانستان فعال است منتها آمرین آن بعداز منظوری صدارت کار خود را آغاز خواهد کرد .

وقتیکه دربارهٔشمولیت مامورین ومنسوبین وزارت صحیه ازمحترم خرم سوال شد وی گفت :

مایک فورمه داریم در آن تمام موضوع سوابق جهادی شخص سوابق‌کار ،درجه‌تحصیل وتضمین در آن شامل است وتقریباً دوازده ماده دارد کسی که‌میخواهدشامل کار شود باید این فورمه را خانه پری کند وهیئتی دراین رابطه موجوداست هیئت فورمه‌راارزیابی میکند وقتی از نظر هیئت گذشت وشخص تزکیه شد به اساس‌لیاقت وسوابق کارش وظیفه‌برایش‌سپرده میشود .

محترم خرم درباره فعالیت مؤسسات‌خارجی‌چنین‌اظهارنظرکرد:

در روزهای اولیکه‌وزارت‌صحت عامه به کار آغاز کرد مکاتیب رسمی ای برای آنها فرستاده شد از ایشان طرز کار واجرأت شانرا خواستار شدیم از بعضی مؤسسات برای ماجوابش آمده وازبعضی ها تاهنوز جواب دریافت نه‌کرده‌ایم ولی من در توزیع شهادتنامها ی فارغان کورس صحی این‌مؤسسات را آگاه کردم که هیچ‌مؤسسه‌نمی تواند که بدون‌ریجستریشن وزارت صحت‌عامه در داخل افغانستان وهمچنین‌دربین مهاجرین کارکنند. البته‌وقتیکه‌آنهامارادرجریان‌کارهای خودبگذارند و تحت راهنمائی‌این وزارت کار کنند وزارت ناگزیر خواهد بود که برای آنها زمینه کار را مساعد سازد و اینچنین شده نمیتواند که مؤسسه های به شکل پراگنده کار کنند واشخاصی در آن فعالیت میکنند که اصلاً از طرف تنظیمهای اسلامی تزکیه نه شده اند . دوست ما هم به پاکستان آمده و دشمن ما هم.

ما باید این اشخاص را بشناسیم این مؤسسه‌ها مجبورهستند که به وسیله حکومت اسلامی انتقالی افغانستان کار کنند .

چاته به بنه شي ؟

محمد زمان مزمل

خلق او پرچم چې د روسي بادار په لمسه او حمایه زمونږ دملت په مقدراتو گستاخانه چاپه ولګوله دخائنانه کودتاد پیل نه هغوی د ملت د تائید او اعتبار نه بې برخې او پدی ترتیب د خلق او پرچم لیونی اقتدار چیان د کودتاپه لومړی تلین کې مسکو ته د روسی فوځونو د راليږلو په خاطر سلامی او په ډیره آسانی ئې خاوره او ملت غبرګ د اشغالګرو سرو فوځیانو سره ناتار ته وسپاره .

سره فوځ په ابتداء کې فکر کاوه چې افغانستان دا دهند په لورې او لاره کې پروت خنډ به د هغوی دتاړاک په نتیجه کې او ددی شکې په فتحه کولو به هغوی یوه ورځ‌لوی‌او تاریخی زیات امتیازات اویریمانه جو ایز سره یوځای ترلاسه کوی .

کرملین هم پدی خاطر خوشحاله وه چې اسرائیلو مصروف کړی نور مسلمانان دافغان ملت د ننګی او حمایه نه عاجز دی مخ په جنوب روان شوی فوځ‌به هغوی د افغانستان د خلکو د اسلامی مقاومت‌دټکولو زیری په خو ورځو یا په څو میاشتو کې د ځان‌سره راوړی .

ولی د کوپړیو پدې لس کلنه جګړه کې بالاخره کرملین اوسور فوځ‌دواړه پدی قانع شول‌چې دافغانستان فتحه کول به دمسکو به د فتحی په ځای د وینوپدی روان دریاب کې غرق او د پرچم او خاق د اقتدار د ټینګیدو په ځای به هغوی پخپله په روسیه کې د اقتدار د رنګونکی طوفان سره مخامخ کړی .

که څه هم ډیره ترخه وه ولې شرائطو دکرملین او سره فوځ د غرور ښکر ورمات کړ او ناچار ئې د نظامی حل په ځای د سیاسی لاری د خپلو فوځونو دآبرو مندانه ستنیدو لار په عجله ونیوله او پدی‌رابطه دومره په تلوار کې وو چې د روسی فوځ د وتلو په رابطه د نړۍ د ټولې بې باوری سره سره بیا هم‌روسی فوځونو په ټاکلی وخت د افغانستان څخه ووتل اوکه دنړۍ‌شرم نوای‌ء نوښائی روسی فوځونه دهغی نیتې نه لاړومبې وتلی وای .

مخکې لدی چې روسی فوځونو د افغانستان‌زمکه پریږدی د کابل په داخل کې حالات‌اوقضایا په‌سرعت د بدلون لاره و نیوله او پدی‌لړ کښې دزړه ختلی نظام هڅې د روغی جوړی په ارتباط مجاهدینو ته دحکومت

د سپارلو او روسي واکمنانو هڅې مجاهدینو سره د مخامخ خبرو ترپولو ورسیدې چې پدې مینځ مینځ کښې پرچم او خلق د فکري مبارزو په رابطه د رسوا شا تګ کیسه مجاهدینو سره په حرم شریف کښې د مخامخ خبرو تر سرحده ورسوله .

که څه هم مجاهدین د دې لس کلنې تحملي جګړې د یو ملیون نه زیاتو انسانانو د کورپریو پړ غونډې ولاړ ؤ ولې ماتې خوړلې رسوا دښمن ته د پښیمانۍ د فرصت او ملت ته د هغوی د ستنیدود چانس په خاطر او د یو فاتح قوم د اخلاقو د ثبوت په خاطر د نظام په ماحول کښې ټولو غولیدلو ته د عامې عفوې اعلان وکړ تر څو پدې ترتیب دسره کمونیزم د انسان خوړونکي ښامار خوله ډکه او د مظلومو انسانانو د زیاتې وینو تویه ولو نه مخنیوی وشي ولې رسوائۍ ته روان پرچم د عفوې په ځای د جنګ لار و نیوله او پدې ترتیب غواړي چې د خو ورځو د جنګ په اوږدولو چې مجاهدین د پرچم اقتدار چیان په څو ورځو کښې د مخې نشي لیرې کولې پدې خام فکر په ځان باندې د عامې عفوې لویه دروازې بندې او ځان په خپله هماغه مناسب قصاص ته ورواندې کړي چې د هغوی ستر او د عفوې نه اوچت جرم ټاکلې دی .

دا خبره چې کمونستان څو ورځې نور هم د مجاهدینو سره جنګیدلې شي او په ښارونو کښې د مظلومو انسانو د کوړیو شا ته په پنا ورلو هغوی دا ریکارد قائموي چې هغوی د ښارونو نه څو ورځې دفاع کولې شي په هیڅ صورت د دې معنی نه ورکوي چې د خلق او پرچم اقتدار چیانو د بقا او دوام چانس پیدا کړ ځکه روانه جګړه به حتماً خپل سرمنزل ته ځان رسو منتهي که او پرچم د دې فکر ثابتولو په خاطر چې عفوې څو ورځې نور هم جنګیدلې شي غواړي د ابرومندانه عفوې چانس د لاسه ورکړي او خپل ټول پیروان د غوڅ مرګ په چړو سپارې او راتلونکي افغانستان کښې په هغو باندې ژوند او دسولې ټولې دروازې و تړي او د دویمې پښیمانۍ ای څوا به امر قاف فضاء سره ئې مخامخ کړي نو څو ورځې نور هم د بې ګناه ښاریانو شاته سنګر ونیسي او د ځان څخه د ماینونو د مرګ رسۍ را تاو او د روسي طیارو د بمبارد په ذریعه د جګړې خط تم کړي .
و به ګورو چې دا د جګړې بې ځایه ادامه او په عفوه باندې کبر به چاته ښه شي ؟؟



چرا استکبار ازحکومت مجاهدین در هراس است ؟

عبدالودود خالد

این یک واقعیت مسلم است که از اسلام اصیل وانقلابی استکباردرطول تاریخ بشریت ترس وهراس داشته ودارد . باحاکم شدن آن، بقاو استمرار استکباربه خطر مواجه شده وپایه های ظلم آن لرزان می شود ورعب ووحشت بر آنها از آنجا مستولی می شود که هیبت وقوت اسلامی را در گذشته مشاهده نموده است . آن جایکه پای اسلام بمیان آمده وقوت اسلامی تشکیل گردیده استعمار وجاهلیت رخت خودرا جمع نموده است ، آنجایکه سپاه فاتح اسلام سرازیر شده طاغوت منشان وبت پرستان محو گردیده وراه نجات بشریت وانسانیت هموار گردیده است وقهرمانی های سرداران سپاه اسلام شاهد مدعای ماست خاطره های صلاح الدین ایوبی ، طارق ابن زیاد موسی بن نصیرو محمودغزنوی فاتح هند واحمدشاه کبیر ود ها قهرمان دیگر راهیچوقت استعمارازیاد نبرده است وفتوحات که نصیب این غازیان اسلام گردیده دردل تاریخ بشریت ثبت است .

بلی خاطرات این فرزندان مجاهد اسلام بار دیگربا احیای حیات اسلامی واعاده حیثیت وعزت بدنیای اسلام وتشکیل حکومت وخلافت اسلامی همزمان زنده خواهد شد واین جریان فقط درپیروزی جهاد افغانستان وپایداری حکومت مجاهدین تجدید گردیده ودنیای غفلت زده اسلام بیدارخواهد شدوانشا الله اگر حکومت اسلامی قوام یابدوپایه های آن درافغانستان مستحکم شود آنگاه راه نفوذ وتسلط استعمار برکشورهای اسلامی مسدود گردیده ومنافع مادی شان ازدست شان خواهد رفت وملت ها خودحاکم خواهد شد .

برادران مسلمان ! باچنین روندکه دربرابر تشکیل حکومت اسلامی مجاهدین از طرف کفار شرقی وغربی براه افتیده ماچه مسؤولیت خواهیم داشت که ثمره این همه قربانی هاواین همه دستاورد های جهادی مارادیگران بربایند؟

آیا بگذاریم که باز هم پای فساد وفحشا ، مادیت ودهریت در قالب های نو بر مردم ماتحمیل شود ؟

آیابگذاریم که کسانیکه باب ودروازه کمونیزم رادر افغانستان باز نمودند و ابنای مسلمان این دیار اسلامی رادر دامن الحادومادیت سقوط دادندوباره برسر نوشت ماتصاحب حاصل نمایند ؟

آیا بگذاریم که یتیمان ، بیوه زنان ، مادران وپدران داغ دیده ما که بخاطر برتری نام خدا (ج) وآزادی افغانستان وحفظ حیثیت ووقار خود خون فرزندان خود رانثار کردند در حلقه قاتلین وفتنه گران قرارداده شوند؟

آیا بگذاریم که ملک ویران شده وبخاک وخون کشانیده شده ما بازهم بدست ویرانگران ماهر وچیره دست قراربگیرید ؟

اولین مسئولیت از مسئولین قائدین این جهاد اغاز می‌شود از کسانی آغاز می شود که ممثل این حکومت اند آنها باید به شکل عملی مخلصانه صادقانه ترجمان این حکومت انتقالی اسلامی باشند ازهمه صلاحیت ها امکانات و قوت های خود در جهت استحکام پایه های این حکومت کار بیگرند و در عمل ثابت بسازند که حکومت انتقالی اسلامی افغانستان از پشتوانه همه جانبه مجاهدین شان برخوردار است . وکوشش بدارند که فضای اعتماد وباور هرچه بیشتر بین مجاهدین وحکومت عبوری رابر قرار نمایند .

وثانی مسئولیت برای تمام مجاهدین و پاسداران اسلام است که از صمیم قلب و از خلاص و صداقت نسبت به این حکومت کار بگیرند وعملاً در پشتیبانی از اهداف وآرمان این حکومت سهیم باشند زیرا مجاهدین مومن ما حیثیت فوج و لشکر این حکومت را دارند و این حکومت بخاطر تحقق آمال و ارمان مجاهدین روی یک انتخابات که از طریق نمایندگان مجاهدین مهاجرین وقوماندانان جهاد انتخاب گردیده است بمیان آمده.

تمام قوماندانان جهاد افغانستان مکلفیت و مسئولیت اسلامی دارند که دربرآورده شدن پروگرام ها و برنامه های حکومت عبوری مجاهدین دست بدست هم بدهندو تمام قوت و امکانات خود را در تحت قیادت این حکومت قرار بدهند تا توانسته باشند راه نفوذ دشمنان این جهاد را مسدود بدارند .

برادران مسلمان ! خداوند به مجاهدین ، قوماندانان امیران ، مسئولین این جهاد و فرد فرد ملت مومن افغانستان توفیق عنایت بفرماید که روحیه وحدت و همبستگی اخوت و برادری را بوجود آورده و در استحکام وپایداری حکومت عبوری مجاهدین از هیچ نوع اخلاص ، فداکاری دریغ نورزند وبایک مشت گره کرده بدهن یاوه سرایان کمونیزم وبدخواهان این جهاد بکوبند وازحیثیت ، آزادی خود ومجاهدین وابنای امت مسلمه دفاع نمایند

آیابگذاریم که پای ذلت وخواری در ارض جهاد افغانستان گذاشته شود آن سرز مینکه عزت وآزادی هرقدم وهر وجب خاک آن بخون هزارهامسلمان آزادمنش خریداری وحفظ گردیده است است ؟

و بالآخره آیا بگزاریم که آرمان های امت مسلمه که به تناب این جهاد بسته گردیده است برباد گردد؟ . . . .

برادران مسلمان ! مسئولیت بس خطر در شرایط حساس وسرنوشت ساز این جهاد مقابل ما قرار دارد و دشمن زبون وزخم خورده ، دارد دوباره جان می گیرد دشمن ایکه سیلاب خون امت اسلامی آنرا غرق ساخته است اما دشمنان اسلام ودین حق می خواهند که آنرانجات بدهند اما انشاالله که نمی توانند و عنقریب شاهد سقوط رژیم کمونستی نجیب خواهیم بود .

برادران بیایند که در پیشگاه خداوند (ج) تجدید عهدنموده وهر کدام ما در هر موقعیت که قرار داریم در حد صلاحیت وقوت خود ادای مسئولیت نمائیم .

د سکډ وژونکی توغندی چی د روسی مشاورینو او متقاعدو پوځیانو له خوا زموږ د مؤمن ملت په ضد استعمالیږی هیڅکله هم د نجیب تپل شوی رژیم له خپل حتمی سقوط څخه نشی خلاصولای.

یوه لنډه معلوماتی څیړنه



اوږد واټنه روسی دوله سکډ توغندی چی په سکډ «الف» او سکډ «ب» باندی شهرت لری ، سږی خورو روسانو د خپلی تیښتی او و تلو څخه ور ته دمخه د نجیب د تپل شوی رژیم د عمرد اوږدوالی لپاره کابل ته راولیږل او بیا ئی د کابل ښار په مختلفو ناحیو برسیره د امریکا او ځینی نورو غربی

سفارتونو په وړاندی د نابودی رمباړی «هورا» په بدر گه له تیریدو وروسته د خواجه رواش او دارالامان په سیمه کی ځای په ځای کړل .

۱: سکډ «الف » دا توغندی چی نه نیم متره او پنځه سانتی اوږدوالی او ۸۵ سانتی متره پنډوالی (قطر) لری ، دلومړی ځل لپاره په ۱۹۵۷م

کال کښی مسکو ته نژدی د تجربوی فیر په حال کی ولیدل شول .

وزن ئی پنځه زره او پنځه سوه کیلو-گرامه چی له نه خرواره پنځه شپیته منه سره برابریږی اود واټن فاصله ئی له ۸۰ څخه تر ۱۵۰ کیلو متر و پوری ده .

۲ - سکډ «ب»: د سکډ «ب» توغندی

چې یولس متره اوپنځه اتیا سانتي متره اوږدوالی او ۳۳ انچه اوپنځه سانتي متره پلنوالی لري او دوه ټنه فاصله ئې له ۱۶۰ څخه تر ۲۸۰ کیلومتره پورې ده .

په ۱۹۶۲ میلادي کال کې د یو لوی زرهپوش په سر په مسکو کې ښکاره شول او ددوهم ځل لپاره په ۱۹۶۵ میلادي کال کې د څه فني تبدیلاتو وروسته د ماز ۵۴۳ دوله اته ټایره نیمه زرهپوش لوی لاري په سر باړ مختلفو پوځي قطعاتو ته ولیږدول شول .

د مینځنی واټن داوژونکي توغندي اصلاً د عسکري سیمو ، د وسلي د ډیپوګانو او هوائی میدانونودویشتلو پخاطر جوړ شوي چې د دې ترڅنګ د ښارونو او پرنفوسه منطقو د ورانی مهم عامل ګیدای شي ، او بې ځایه نه وی که ووایو چې دایران او عراق داته کلنی خونړی جګړې د پای ته رسیدو د عواملو په سرکې هغه سکډ توغندي ځایلري چې دعراق لهلوري د ایران په ځینو ښارونو باندې راشیوه شول .

نوموړي توغندي دعادي چاودیدونکو موادو په ځای اتمی خولی هم په ډیره اسانی سره نقل کولای اودیوی لوی بربادی سبب کیدلای شي .

سکډ «ب» اوس په نړیواله سطح له مځکې څخه مځکې ته د ډیرو پر مختللو راکټونو په ډله کښې شماردی.

د دې توغندي په وروستي برخه کښې دچتري (پراشوت) سره متصل یو وړوکي بې سیمه جهاز نصب دی چې له مځکې سره د«اندترای» ډوله رادار د چینلونو په واسطه دچاودیدو تروخته پورې ارتباط ساتي .

د معتبرومنابعو د وینا مطابق روسانو د تیرې میاشتي تر پایه پورې دسالنګ او دالیوشن د ترانسپورتي الوتکو له لیارې د کابل رژیم ته د پاکستان د صدراعظمی د وینا په اساس ۳۳۰ فیره راکټونه ورکړل شوي دي .

ولی د ځینو پاکستاني مطبوعاتو د راپورونو په اساس روسانو دغه شمیر اوس ۵۵۰ ته رسولی او ادامه لري پټه د نوی چې دافغانستان داسلامي انتقالي حکومت مجاهد د صدر اعظم پوهاندسیاف دیوی مطبوعاتي مرکی

په ترڅ کې ویلي چې دسکډ توغندي د روسي مشاورینو او متقاعدو روسي صاحب منصبانو لخوا چې پډيوروستيو کې کابل ته راغلي دمجاهدینو اوبې ګناه خلکو چې ښځې اوماشومان په کښې شامل دي استعمالیږي .

دروس لاس په نامه غلامانو د اول ځل لپاره دروان کال دمارچ په ونیته چې له ۲۰/۱۲/۶۷ سره سمون خوری د جلال آباد په ښاو خوا لنډ ی خیبر او طورخم باندی را وویشتل چې شپږ یې بې هدفه او اوم بدمرغه ئې داوو تنو مجاهدینو دشهادت او لسونوروږ تپي کیدو او یو شمیر لاریو او عسکري موټرو د خرابیدو سبب شو .

د موثقو منابعو د وینا په اساس تر اوسه نژدی ۲۷۰ راکټونه په ننګرهار غزنی اوخوست باندی فیرشوی.

اومرکزی اډه ئې اوس د کابل په دارالامان کې ده .

ولی موږ مطمئن یو چې هغهٔ ورځ لرې نده چې د سکډ توغندي به هم د مجاهدینو په لاس کې غنیمت پریوځي او هلته به وربانديد مؤمنانو زړونه یخ او ستر ګي رڼي شي.

خوانندگان گرامی حق پاځون

مجلهٔ حق پاځون هرنوع نظریات مفید انتقادات سالم وپیشنهادات اصلاحی شمارا پذیرفته ونیز سوالات شمارا تاحد امکان پاسخ میدهد باارسال نامه های خویش به ادارهٔ حق پاځون مارا ممنون سازید .

دعبوري حکومت تائید



دجهاد بریالیتوب دی

لیك : محمد امین «هموزی»

ځمونږ اوسنی عبوری حکومت چی څه موده پخوا دافغانستان دمهاجرینو او مجاهدینو د خاصو او پوهـو نماېندګانو په تصویب اوپریکړه وټاکل شو کوم چی د افغانستان د مظلوم ولس د بولسو کلو نو د وسلـه وال جهاد د بی دریغه سربښندنو نتیجه ده چی د کفراو الحاد په مقابل کی مو ټیلی کړی دی.

دا یو ښکاره حقیقـت د ی چی کله د اسلام سترلارښود حضرت محمد مصطفی صلی الله تعالی علیه وسلم د حق نعره پورته کړه او ګمراه بشریت یې د اسلام د ژوند ښبونکی لمر د درنا لو ر ی ته را وبله ، له هما غه لومړی سرنه ځینو مشر کینو ښکا ر ه دښمنی ورسره اعـلان کړه او ځینـو نورو په ظاهر ایمان راوړ خو په زړه کې یې ورسره کینه اودښمنی لا زیاته کړه.

د اسلام ښکاره دښمنانو د اسلام اودهغه د پیغمبر په مقابل کې له سختو او غیر انسانی اخلاقو او کړو وړو څخه کا ر وا خیسـت او ډول ډول ظلمو نه یې وربا ندې روا و ګڼل او پټو دـ ښمنانو په خفاه کی د اسلام د ریښو و چولو او دهغه د نفوذ او پرمختګ د مخنیوی په منظو ر په رنګ رنګ نیر نګونو او دسیسـو لاس پوری کړ خو څرنګه چی الله جل جلا له په خپل حق او باحکمته کتاب قرآنکریم کی فرمایلی (ترجمه) ووایه ای پیغمبره حق راغی باطل ولاړو ، بیشکه باطل له مینځه تلونکی دی» باطل پرستان نشی کولای په خپلو شیطانی د سایسو او چلو نو یا زور زیاتیو د حق درنا مخه و نیسی «خدای جل جلاله خپله رنا تماموی که څه هم کافران پری ناخوښه وی» (قرآنکر یم) پیغمبر صلی الله تعا لی علیه وسلم خپل رسالت تر سره کړاو ددښمنانو هیڅ ډول فریبو نو او اخطارو نو او عملی اقدامونو د هغه په عزم او

ثبات کې ذره بدلون را نه وست او
د خپل رسالت په درویشتو کلونو کې
یې د اسلام تر بیرغ لاندې پراخ
ملکونه راوستل او دلومړني اسلامي
حکومت بنسټ یې په یثرب (مدینه منوره)
کې کیښود ، او وروسته د راشدو
خلفاؤ او نورو تابیعو نو خلفاؤ
پــه وخــت کې د اســلامـــي
حکومت فتوحات د افریقا او اروپا
لویو چوته ورسیدل .

زمونږ تیره لس کلنه غیر مسلحانه
مبارزه او پــولس کــلن وسله وال
جهاد بالکل د اسلام دصدر له اسلامي
مبارزې او دجهاد سره شباهت لري
او دا مونږ د خپل د بریالیتوب
له پاره یو نیک فال ګڼو :

د اسلام عظیم پیغمبر او د هغه
پاکو اصحابو او ملګرو لس کاله
په مکه مکرمه کې د شرک او کفر
په مقابل کې غیر مسلحانه مبارزه
وکړه او عام خلک یې د اسلام په
حقیقت او حقانیت وپوهول او دې
ته یې آماده کړل چې یوه ورځ چې
د کفر او شرک په ضد د وسله وال
جهاد اعلان وشي دوی په خپل
شوق او ذوق سره وسله پورته کړي
او د چا له زور او مجبوریت څخه
پرته د جهاد میدان ته ورودانګي
همداسې وشول . کله چې د اسلام
ستر لار ښود حضرت سیدنا محمد ﷺ
له هجرت نه وروسته خپلو پیروانو
او ملګرو ته دستور ورکړ چې
وسله واخلي او دکفر او شرک دمحوه
کولو په خاطر جهاد پیل کړئ ،
نولو ددې دستور په مجردې اوریدو
سره ، له کوم فکر او سوچ نه پرته
لبیک ووایه او په ډیرې ایماني
جذبې او شوق سره یې د جهاد
میدان ته ودانګل او د شهادت په
شوق یې د کفارو او مشرکینو په
ضد بې امانه او نه ستړې کیدونکې
مبارزې او مجاهدې پیل او د
بریالیتوب تر پړاوه سر ته ورسولې.

څکه چې مخکې مو یادونه وکړه
د افغانستان مسلمانو ځوانانو هم
هجرت نه یخوا پوره لس کاله د
افغانستان په داخل کې د کفر او
کمونیزم په ضد مبارزه وکړه او
عام ولس یې د کمونستانو او د
هغوی د بادارانو په شومو اغراضو
وپوهول او ددوی اسلام د ښمنی
یې خلکو ته ور په ګوته کړه
او بیا یې له هجرت نه وروسته
خلکو ته د کفر او الحاد د محوه
کولو او د هغوی له تسلط څخه
یې د افغانستان د خاورې دآزادولو
په منظور بلنه ورکړه چې د غې
بلنې ته د افغانستان عام ولس
لبیک ووایه او بې له ځنډه یې وسله
راپورته کړه او د روس او خلقیانو
او پرچمیانو په مقابل کې یې وسله وال
جهاد پیل کړ چې له هماغه پیل نه
تر اوسه پورې یې د بریالیتوب
پړاوونه وهلي ، روسان یـــې
د افغانستان د خاورې پرښودو ته
مجبور کړي دهغوی له ناپاکو
وجودونو او قدمونو څخه یـې د
افغانستان خاوره پاکه کړه او اوس
زمونږ مجاهدین د کمونیزم د
وروستیو بقایاوو د له مینځه وړلو
په پړاو کې په بې امانه مجاهدو
او جګړو لګیادي او که خدای (ج)
کول په دې نږدې وختونو کې
به په افغانستان کې د خلقیانو او
پرچمیانو حکومت رنګ شي او په
ځای به یې زمونږ اوسنی عبوری
اسلامي حکومت قایم شي . ددغه
حکومت بنسټ څنګه چې مخکې
یې هم یادونه وشوه ددارالهجرت
د (پاکستان) د اسلامي خاورې
دراولپنډۍ ښار په مدینه الحجاج کې
کیښودل شو دا مونږ دیو نیک فال په
نیولو سره داسلام د صدرله لومړني
حکومت سره مشابه ګڼو چې د مدینه
الرسول په ښار کې یې بنسټ کیښودل شو.

زمونږ دغه اوسنی عبوری
حکومت به که خدای کول داسلام
د پرمختګ او په افغانستان او بیا په
ټوله نړۍ کې داسلامي حکومت او
خلافت لارې چارې هواری کړي .

خوله بدغه مرغه ګورو چې
ددغه حکومت له پیل څخه تراوسه
پورې ددغه حکومت په ضد دمنافقینو
له خوا ځینې ګمراه کوونکې اوناروا
تبلیغات پیل شوي او ددغه حکومت
په رئیس ، صدراعظم او وزیرانو
باندې بې ځایه او له حقیقت نه خالي

تورونه لگوی ، داهغه تورونه دی
چی نجیب یی د افغانستان دراډیوله
لاری خپروی او دلته هم دغه خبری
دیومنظم پروگرام لاندی یوه ډله خلک
تائیدوی اوهغه زمزمه کوی .

خوددوی دغه عمل چی دنجیب
دویناوو او اتهامونو تائید او تکرار
کوی او څه چی نجیب او د هغه
نورو پرو پاگندو چیانو زمونږ دجهاد
او حکومت په رهبرانو پسی و ویل
دوی یی هم وایی ، دا پخپله واضحه
کوی چی دغه ډول خلک د روس
دکی جی بی او دنجیب د خاد غړی
اوجواسیس دی چی د جهاد له پیل
څخه د روس او د کابل د کمونیست
حکومت په دستور دمهاجرینو او
مجاهدینو په صفونو کی داخل شوی
اونه پریږدی چی دمسلمانانو ترمینځه
اتفاق او یووالی مینځته راشی او
دمسلمانانو د مبارزو او جهاد ثمره
په لاس ورشی او په افغانستان کی
دنجیب د کمونیست حکومت په
ځای د افغانستان د مسلمانو مجاهدینو
حکومت جوړ او په پښو ودریږی.

مونږ په ډیر جرأت سره داخبره
کولای شو څوک چی داسلام ددښمن
خبری تائیدوی او کوم اتهام چی
هغه د مسلمانانو او مجاهدینو په
قیادت پوری لگوی دوی هم هغه
اتهامونه تکراروی او په عامو خلکو
کی یی نشروی دا بالکل د روس او
نجیب ایجنټ او د جهاد اودافغانستان
د اسلامی او ملی مصلحت دښمن دی
او ددوی له ناپاکه وجودونو څخه
د مهاجرینو او مجاهدینو د دفترونو
او صفونو پاکول په کاردی . ځکه
همدغه د کی جی بی . او خاد
جاسوسان ؤ چی د لسو کلونو په
جهادی موده کی یی زمونږ اسلامی
تنظیمونه اتحاداو اتفاق ته نه دی
پریښی او وخت په وخت یی په
خپلو شیطنتونو سره د تنظیمونو او
مجاهدینو او قوماندانانو تر مینځه
فاصلی پیدا کړی او حتی یو دبل په
ضدیی خونړیو جگړوته هڅولی دی.

داهغه کسان دی چی دنجیب گاو
په شان شوخندوهی او دهغه دشوخند
پیښی او تکرار او تائید کوی. که
نجیب وویل چی داسلامی حکومت
رهبران او داسلامی تنظیمونو مشران
دانگلیس نمایندگان دی دوی هم وایی
دانگلیس نمایندگان دی ، که نجیب
ووایی دوی و هابیان او پنج پیریان
دی دوی هم وایی چی صحیح ده
او د نوروعامو خلکو په مینځ کی
هم دنجیب د خولی وینا خپروی او
په ډیر ماهرانه پرداز سره دلایل هم
ورته تراشی .

خو مونږ د افغانستان عامو
مسلمانانو ته دا وایو چی د دغو
منافقینو په خبروونه غولیږی ، دا
هماغه د مدینی منافقین دی چی
داسلامی حکومت د مخنیوی لپاره یی
لههمدغو شان شیطانی وسایلو څخه
کاراخیست اود مسلمانانو په رهبرانو
به یی تهمتونه تړل او د دوی او
د عامو مسلمانو خلکو ترمینځه به یی
فاصلی ایجادولی ، بلکی زمونږ هر
مسلمان ورورته چی ځان دافغانستان
د اسلامی تحریک اوجهاد پیرو او
غړی بولی په کاردی ددغو منافقینو
او د کی ، جی ، بی ، او خاد اوسی
آی ، ای د جاسوسانو او ایجنټانو
مخنیوی وکړی او که چیرته یی ددغه
شان تبلیغاتو کولو په حال کی
ولیدل ، که توان یی در لود پهٔ
هماغه ځای دی په خوله سوک ورکړی
او که نه نو د اسلامی تنظیمونو
اویادعبوری حکومت مسئوولینو ته دی
ور په گوته کړی چی د خپلو ناوړو
اعمالو سزا ووینی .

اوس چی د اسلام دښمنانو
د سر په سترگو و لیدل چی همدغه
موجوده د اسلامی تنظیمونو مشران
وو چی عام مسلمانان یی د روس
د استعمار په مقابل جگړی ته راوبلل
او د کفر او کمونیزم جرړی له
افغانستان څخه و باسی ، نو اوس
غواړی چی د دغو بی ځایه تبلیغاتو
په وسیله چی فلان رهبر و هابی او
فلانی انگلیس او فلانی عربی اوفلانی
پنج پیری دی د جهادی مشرانو او
مجاهدینو او د اسلامی تنظمیونو او
عامومهاجرینو ترمینځه دنفاق او شقاق
اوربل کړی او پری نږدی چی یو په
بل یی باور پیداشی او خدای دنکړی
زمونږاوسنی جهاد اواسلامی حکومت
په نطفه کی خنثی کړی .

جوانان مسلمان

عبدالرقیب جهید

خداوند متعال در صفت اصحاب کهف فرموده اند .

«انهم فتیة آمنوا بربهم وزدناهم هدی الایه

حقیقتاً که جوانان مؤمن درراستای مبارزه درخط یکتاپرستی ازمواصفات عالی برخوردار اند . . . .

زهی نام ممتاز وجذابی ، جسم پژمرده را روح و امید واری میدهد، مزیت و برتری موصوف راصفت دوچندان ساخته و این محض به یک صنف محدودجامعه بشری خلاصه نمیشود ، اگرچه جزوۀ کوتاه است مگر مفهوم وسیع وعریض دارد و اولین هستۀ نهضت اسلامی افغانستان را تشکیل میدهد و این جوانان مسلمان است که امروز جنبش های اسلامی را در سرتا سری جهان براه انداخته و آنرا رهبری میکنند و جوانان مسلمان است که در قلب بتکده های طاغوتیسم شرق و غرب شبخون میزنند و نفیر جهادرا زمزمه سرائی دارند و جوانان مسلمان است که سربکفا نه به نقش پای سرور مجاهدین حضرت فخر کائنات محمد رسول الله ﷺ علمبرداری توحید و رسالت را بدوش گرفته ومسؤولانه درراه پخش دعوت جهانی اسلام باقدمهام متین و ثابت سرنوشت ظلمتبار و تاریخ زده بشریت گمراه را در اثر دعوت اسلامی و مساعی جهادی و استمراری رهائی بخشیده و بسوی روشنائی ونور به روشنگری وشستشوی فکری و روانی آنها تلاش می ورزندو باالهام ورهنمائی ابراهیم خلیل الله بمبارزه نمرودان و مشرکان عصرقیام میکنند و بت هائی قرون وسطائی و لانه های شیطانی استکبار رابانیروی توحیدی و نعره های تکبیروفریاد های تهلیل شکسته و پارچه پارچه محوو نابودمیکنند وچه شگرف لحظاتی وشگفت انگیزه ها و شهکاریهائی که همه به ابتکار و نقش و اصالت جوانان مسلمان جامۀ عمل می پوشد .

جوانانیکه دلهای خداجوی آنهـا مماو از تجلی ذات و صفات خدای یکتا وبی همتا بوده و در جبین آنهاسیمائی ازآثارسجود اطاعت واخلاص باالله سبحانه تعالی بمجرددقت آشکارا میگردد و با صفای قلب وخلوص ایمان وعقیده امانت دین خداوند تعالی و سنت پیغمبر محبوب و گرامی اسلام محمد رسول الله ﷺ و التزام به احکام وفرامین کتاب الله وشریعت محمدی ﷺ واعتصام به اهل سنت و جماعت و متصف به لقب خیرامت در سواد اعظم ، راهیان و فادار انقلاب اسلامی وطلایه داران اهداف عالی نهضت اسلامی و انقلابی جوانان مسلمان است که بسان پروانه های فدائی در پیش اپیش صف جهادباندای الله اکبر ولله الحمدو تسبیحات وتهلیلات راه دعوت اسلام را مساعد می سازندو درخون شناوری میکنند سرمیدهند ولی سنگر نمیدهند ، به قیمت خون وبه بهای جان و روان خودازحدود مقدس عقیده وازحریم پاک کشور بخون خفته و نجات مردم مظلوم خود از قید الحاد واسارت دژکمونیزم و استعمار مقابله میکنندو آزادی بمفهوم واقعی آنراخریداری میکنند .

معامله این پاسداران مخلص انقلاب اسلامی در حقیقت باپروردگار و برای دریافت رضای معبود حقیقی سبحانه وتعالی است جوانان مسلمان زیر بنای نهضت

اسلامی و ستون فقرات حرکت انقلابیون مسلمان افغانستان راتشکیل میدهند .

در لعصر تاریک زمامداری سلطنت ظاهرشاه خائن و وطنفروش ، باند های کفری و الحادی خلق ، پرچم وستم ازبلاک کمونستی روسی ، گروه اغواگر ودهشت انگیز افغان ملت ، مساوات خواهان بلاک کپیتالزم غرب و امپریالزم امریکا ، حزب دیموکراتیک نوین مائویسم وشعله ئی های استعمار منش چین ، اشرافیون شرف باخته ارتجاعیون سلطنت و سرانجام درکشور عزیز واسلامی ما ، مفکوره ها ومکتب های مارکس ولینین وانگلس مائو و . . . . جزو پروگرام عادی مؤسسات عالی و مکاتب ثانوی گردیده بود ، شاه ودرباریان آن غرق درنازو نعمت و عیش و عشرت به بسر می بردند واز باده باداران روسی و غربی اش بدمست شده بود دگر جلو اراده اش سلب وکفایتش تمام ، معاملات وامورات عالی و مقامی کشور مارا مشاورین روسی وایجنت های شناخته شده دستگاه «کی ، جی ، بی» طرح و پلان وپرتوکول می کردند و هزاران فاجعه و هنگامه های غربی و کلچرهای استعماری که رهبری نهضت اسلامی وپیشازان جنبش جوانان مسلمان احساس خطر جدی تبلیغات و مطبوعات آزاد کفر و الحاد را یک اثر مدهش برپیکر جامعه و روحیهٔ جوانان و نونهالان معارف و سایرملت تلقی کرده ، فوراً دست بکار شده و یک حرکت وسیع انقلابی و اسلامی را ضمن برگذاری اعتصابات ، تظاهرات و راهپیمایی هابراه انداختند ، جوانان مسلمان از هر گوشه و کنار مملکت و علی الخصوص این قشر روشنگر و آگاه ازمکاتب و لیسه ها و مدارس دینی و دانشگاها با اجتماعات عظیم در علمبردار داری رسالت وتوحید قیام طوفانزای رستاخیز جهاد ومبارزه را اساس گذاشتند که تاامروز پیروزمندانه ادامه دارد .

دانشجویا ن مؤمن وخدا پرست گروه ، گروه جهت اشتراک دربزرگترین وظیفهٔ اسلامی شان در مراکز قیادی و رهبری تحریک حضور بهم رسانیدند ، زمین و فضای شهر کابل را سرود های انقلابی جوانان مسلمان فرا گرفته بود ، شعار های کوبنده ودشمن شکن ضد الحادی و کمونستی و ضد ارتجاع مشروطه شاهی در سرا سر راهپیمائیهای انقلابیون مدرسه محمدی (ص) سروده می شد و با برافراشتن بیرق سبز توحید و آیات الهی (ج) و احادیث نبوی (ص) اهداف اسلامی و انقلابی خود ها را در برابر استبداد مطلقهٔ سلطنتی و باندیست های ملحد و دهری بیگانگان که از آن قبلاً یاد آور شدیم آشکارا ابلاغ ومواضع مستحکم وشکست ناپذیر و مواقف غیر قابل انعطاف راتمثیل مینمودند .

باوجودیکه محدودیت های بی شمار ونا سازگاری شرایط وظلم وجنایت بیرحمانه سلطنت که در خصوص علمبر داران مکتب قرآن وپرچمداران اسلام و آزادی تعمیل داشتند ، وطوریکه شاه مخلوع و مفسد میگفت **«خطرازبیرآهای سرخ وسیاه متوجه ما نیست بلکه خطرجدی ازبیرق های سبزاست»** و در حقیقت این پنداشت شخصی ظاهر شاه وخاندان کاخ نشین سلطنتی نبود این تصوروبر داشت از تمام جهان کمونیستی و امپریالستی و هژمونستی بودکه کفرجهانی از اوجگیری جنبش اسلامی هراسان بود بنا برآن در قدم اول کشور سو سیالستی ، روسیه هوا داران اجیران و کار شناسان جاسوس سفارت روسیه رادر کابل دستور دادند تابادستیاری حکومت شاهی مسلمانان را به انواع گوناگون نیرنگ هاو دسیسه ها به پنجه قانون سپرده وبه سلول های زندان کشانند وقیودات سخت را بالای افراد متعهد و فداکار نهضت اسلامی عملی سازند بهر صورت این همه حوادث و توطئه افگنی ها جائی را نگرفت و با وجود این همه شرایط و انواع لت وکوب قوای امنیتی سلطنت ، استعمال دنده های ضربتی وبرقی ، اخطار ها وبزندان کشیدن ها به محاصره کشیدن ها ، چون حق وحقیقت مُسلّماً راهش را بسوی منزل مقصود در پیش میگیرد ، وهدفمندانه ازفراز

ونشیب‌هاعبور میکند و پیروزمندانه در راستای جهاد و

وشگوفانی دعوت اسلامی ، گسترش و توسعه آن گام‌های مثبت بر دارند . در ین فرصت هر فرد متعهد نهضت و جانباز انقلاب اسلامی بصفت عضو فعال و مفید جامعه قرار گرفته و در راه اعمار جامعهٔ واقعاً اسلامی وپایه‌گذاری حکومت اسلامی مصمم گردند .

امروز کفرجهانی‌دررأس آن کمونیزم و اجیران ملحد آن تلاش‌مذبوحانه دارد تاباِبه‌کارانداختن انواع گوناگون دسایس ، الزامات‌بی مورد ، بهانه جوئی ها سیاست های‌شیطانی ، تفرقه اندازی وباگماشتن اجیران جاسوس‌دستگا های خاد وکی ، جی ، بی در صددسرکوب نمودن‌چهره های سرشناس و اعضای فکری و تیوریکی تحریک‌اسلام دقیقه شماری دارند تا اگر بتوانند سران ورهبران واعضای عالیرتبه و مبارزین راه خدا را به نحوی از انحاء ضربه دهند واهداف سریع السیر انقلاب اسلامی را به رکود وجمود مواجه سازند مگر الحمدلله امروز عموم افراد جامعه اسلامی و مجاهدین متعهد انقلاب اسلامی ازتوطئه های شوم کمونیزم بین‌المللی ومزدوران کی ،جی ،بی‌وسایر بلاکهای کفری و الحادی اطلاعات کامل دارندوملت مسلمان افغانستان امروز بسان دیروز نیستند که تحت سیاست های ظالمانه‌سلطنتی ورژیم‌خوفخوار داود شاهی و . . . . . جرأت و قدرت قیام وجهاد را نداشته‌باشند بلکه امروز جهاد ملت‌مجاهد وخدا پرست‌افغانستان شرق و غرب دنیا را به لرزه درآورده‌وآنروزدورنیست که‌حکومت جهانی آزآن‌اسلام و خلافت‌سرزمینهاطوری که‌خداوند وعده نموده‌بدست مسلمانان مجاهد فتح وگلیم استعمار و کفر و الحاد از سراسر دنیا بر چیده شود انشاءالله‌تعالی.

ومبارزه مقاومت‌وسلحشوری را تقویت می بخشد این قیام جوانان‌مسلمان بود که سر انجام به یک انقلاب عظیم و پهنا ورمبدل شد و الحمد لله درین مدت‌یازده سال‌جهادومقاومت ملت مان بسا افتخارات تاریخی،سیاسی وجهادی رابسطح بین المللی بدست آورده که در تاریخ بشریت‌وجهان سابقه ندارد و اکنون نیز در رأس انقلاب اسلامی‌افغانستان همان متعهدین مبارز ودعوتگران‌صدیق مکتب توحید اند و انشاءالله‌تاوقع میر و دتاآخرین سر منزل‌مقصوداهداف تحریکی واصولی این حرکت‌مکتبی وجهادی رااززیرامههانجات و از انحرافات وتصادمات ایمن‌بدارند . وسایر برادران سابقه دار جوانان مسلمان وکافهٔ مجاهدین سنگردار در راه خداوبه پیروزی‌رسانیدن آرمان انقلاب اسلامی‌ومرامنامه ها وپیمان های نهضت آگاهانه برزمند وملت مؤمن ومجاهدوشهید پرورافغانستان را از گزند دسایس دشمنان تحریک اسلامی‌در داخل صفوف مجاهدین‌ومهاجرین و یادر خارج از آن در وقت وزمان خنثی‌ساختهتادر پرتوارشادات الهی ، هدایات نبوی (ص) قرارات بیعت وپیمان و تعهد خود را مسئولانه‌باقاطعیت وتلاش خستگی ناپذیر دنبال نمائیم.

مسئولیت بس خطیر وعظیم بر دعوتگران راستین وجوانان تحریک‌انقلاب اسلامی افغانستان نهاده شده است که رسالت‌ایمانی واسلامی‌خود را در پیشگاه‌خداوند مطابق شریعت فرخنده پیامبربزرگوار اسلام (ص) و کارنامه های یاران‌پاکباز ش (رضی الله عنهم) باحسن وفاداری وفداکاری وامانتداری انجام دهند و در عین زمان با جدیت‌وبه‌قاطعیت تمام ازعواقب وعوامل منفی ارتکاب معاصی‌وجنایت، دروغ ومنافقت ، خودکامگی و انانیت، تعصب‌وحسادت ، بزرگمنشی وشرارت غدرو خیانت و سایراعمال مخالف د پیلو ماتی تنظیمی و تحریکی جداً بپرهیزند وخویشتن‌راشایستهٔ یک عضو مسئول‌ودرمانگر جراحات‌ملت رنجیده ازگزند دشمنان صف وجهادگردانند ودر برابر نابسامانی هاو بی عدالتی ها مبارزه بی امان را عملی‌نموده و طبق اصول و اهداف نهضت اسلامی وقایع‌ورویداد ها را با آگاهی کامل وذهنیت سالم درک باجبین کشاده در فضای اخوت‌و صمیمت در راه پیشبرد

دحق پا

سالعی و طو دا
الرحـ فا ...
الاکاو وا ...
کلما ر ...
سا فوا الله ...
و مر سا کو الل ...
وا ر الله سد ...

• ازنصائح لقمان حکیم رحمة الله تعالی علیه

۱ ـ درکار خیر جد وجهد نمای .
۲ ـ جوانی را غنیمت دان .
۳ ـ خرچ به اندازه دخل کن .
٤ ـ درهمه کار میانه رو باش .
۵ ـ مادر وپدر را غنیمت شمر .
٦ ـ جوان مردی پیشه کن .
۷ ـ خدمت مهمان بواجبی اداء کن .
۸ ـ درخانـه کسی که درآئی چشم وزبان را نگهدار .
۹ ـ جامه وتن را پاکدار .
۱۰ ـ باجماعت یار باش .
۱۱ ـ فرزند را علم وادب بیاموز .
۱۲ ـ اگر ممکن باشد تیر انداختن وسواری بیاموز .

وواپه . زه پناه وروړم د انسا ...
انسانانو حقیقی معبود ته دهغ ...
چی په وار وار ځی راځی . هغ ...
وسوسی اچوی . که هغه له پیري ...

وجیزه های سودمند

• متکلم راتاکسی عیب نگیرد سخنش صلاح نپذیرد.
• یکی راگفتند که عالم بی عمل به چه ماند ؟ گفت : به زنبور بی عسل.
• هرکه به نصیحت زبان میگشاید خود نیز به نصیحت محتاج است .

په مونږ ټولو دا فرض ده چی ب ...
او بر لاسی ښځه ځان ازاد او ...
سازش لیاره غوره نه کړو . او ...
دریځ غوره او د عقیدی او اصول ...

ضرب المثل هائی ازفرهنگ مردم ما

- خائن خائف است .
- آز مند پیوسته نیاز مند است .
- مزن به در کس به انگشت که نزند بدیوارت به مشت .
- منزل دروغ کوتاه است .
- بارکج به منزل نمی رسد .
- برادر با برادر حساب شان برابر .
- مار گزیده از ریسمان دراز میترسد .
- دل به دل آئینه است .
- آنچه دردیگ است درکاسه می آید .
- سیر ازدل گرسنه چه میداند ؟
- آزموده ٔ آزمودن خطا است .
- درشب تاریك هرکس میترسد .
- نان وپیاز به پیشانی باز .
- مهمان عزیز خدا است .
- ازصد خو یش یك همسایه پیش است.
- رنگم را دیده حالم راپبرس .
- با خالقت چه کردی که باخلق او کنی !؟
- شیرخانه رو باه بیرون .
- مشك آنست که خود ببو ید نه آنکه عطار گو ید.
- صبر تلخ است ولیکن برشیرین دارد.
- خون با آب شسته میشود نه باخون.
- سرزنده مال میراث.
- کوه هرقدر بلند باشد ، سرخود راه دارد .

څون بڼ

...انو رب ، د انسانانو پاچا ، د ...
... وسوسه اچونکی له شر څخه ...
... چی د خلکو په زړونو کی ...
...انو وی او که له انسانانو څخه .

"الناس"

...اید د جاهلی ټولنی د تسلط ...
...له هغی سره د مصالحت او ...
... هم ورسره ٔ وفاداری او ذلت ...
...و په سر تجارت ته حاضر شو .

شهید سید قطب

نجیب څوک ؟

سلیمان شاه

د خاد دجاسوسی د شبکی پخوانی رئیس ډاکتر نجیب د روسانو د لاس امتحان شوی الده، نوموړی په ۱۹٤۸ عیسوی کال کی د میلن په کلی کی چی لس کیلو متره د گردیز څخه لری د پکتیا په ولایت کی پروت دی په یوه بډایه کورنی کی پیداشویدی‌چی د احمدزی قبیلی پوری اړه لری، دده پلار اخترمحمد د شاهی دولت په ملکی او اداری چارو کی د ځو کلنو لپاره کارکړیدی او بیا پیښور ته د افغانی سوداگرانو او پښتنی تجارتی بانک د نماینده په توگه راولیږل شو د نوموړی ددی ماموریت پسه دوره کی نجیب د پیښور په یو ابتدائی مکتب کی شامل شو، کله چی یی پلار دماموریت دوره پای ته ورسیده نو نجیب یی هم له ځانه سره بوت او د کابل په حبیبیه لیسه کی ئی داخل کړ چی په ۱۹٦۵ م کال کی فارغ‌شو، اگر څه نوموړی په‌مشروطی ددولسم ټولگی څخه خلاص شو خودا چی پلاریی په شاهی دربارکی دبانفوذه سوداگرانو له لیاری سخت مخکی وو د شاهی کورنی د یوه غړی په ځانگړی سپارښتنه د مقرراتو برخلاف د کانکور له ازموینی پرته دطب په پوهنځی کی شامل شو نوموړی په ۱۹۷٦ م کال کی ددغه پوهنځی څخه د شپږو تعلیمی کلنو په ځای د یولسو کالو په دوران کی د فراغت سند ترلاسه کړ.

ده په پوهنځی کی د هر کال مسلسلی ناکامی علت دابیانوه چی دی د گوند د هدایاتو مطابق نه غواړی ژر ډاکتر شی، خوداخبره د دهم صنفانو ته ډیره مسخره امیزه معلومیده، حقیقت‌خوداؤ چی‌نوموړی په یوه مضمون کی هم‌په لومړی وار از مو ینه کی‌په کامیابی‌موفق‌شو.

ده په پوهنتون کی د کمونست گوند دجذب او د ځوانانو د ځانگی د چارو مسئولیت په غاړه درلود. کله چی دی کمونست گوندته‌جذب شو نو د خپل پلار د توصیی برخلاف یی ظاهرشاه د حکومت په ضد په سیاسی فعالیتونو کی دکابل دپوهنتون څخه د انجا مولو مسئولیت په غاړه واخیست پدی کارکی ډیر مؤثر او کامیاب ثابت شو.

نجیب څوک چی‌دری‌ورونه‌اودوه خویندی‌لری‌دمحمدزایانو دیوی‌شتمنی کورنی‌دیوی پیغلی سره‌ئی وادہ‌وکړ. دیادونی وړ ده چی دنجیب یو ورور مجاهدینو ته‌تسلیم‌او بیاامریکاته‌ولاړه او بل ورورېی دکیوبا د پولیسو په عالی اکادمی کی‌محصل دی

هغه کسان چی د طب د پوهنځي پۀ دوران کی ئی نجیب پیژانده وایی

چې نوموړی دشرابو او مستریح ژوند ډیر شوقین وو .

سیاسی مبصرینو ته ۱۹۸٦ عیسوی کال د مې په میاشت دی پوښتنی دیوی معمیٰ شکل غوره کړچی څنګه د خاد پخوانی مشر د خپل استاذ (کارمل) ځای ونیو ؟!

د نجیب انتخاب د روسانو لخوا دامی طرح شوی وو چې د جنیوا د خبرو اترو د اوم پړاو سره سمون ئی خوړ ترڅو نړیوالوته دا پیغام ورسوی چې ګوندی دسیاسی حل په منظور کمونست رژیم د خپلی پانګی او قاعدی پراخولو ته چمتو دی مګر برعکس دناروغ او غیر مؤثر کارمل په ځای د ډاکټر نجیب را مینځ ته کولو د روسانو مشکل او ستونزی په افغانستان کی لازیاتی کړی.

دا یو حقیقت دی چې کارمل د ډیری مودی څخه د سږو په سرطان باندی اخته او نوربی دد ی توان نه درلود چې دروس د طرح شوی پلان مطابق د دریملین سیاسی او عسکری اهداف پلی کړی. خو ددی نه علاوه د نجبب منځ ته راوستل او سم د لاسه روسی مطبوعاتو لخوا ورڅخه په اصطلاح د نوی پړاو د یو قهرمان جوړول یو بل هدف هم درلود ، د کارمل صحی حالت مخ په خرابیدو ؤ خو بدنی حالت سره یو ځای د روسانو په نظر کی ئی سیاسی صحت او حالت هم خرپړ بریښده ، روسان له ده څخه نور پدی مایوسه شوی ؤ چې دی په هغو دری ګونو دندو کی چې ده ته سپارل شوی وی کومی چې مجاهدینو سره د جګړی لپاره ډیری ضروری وی پاتی را غلی .

الف د افغان کمونست ګوند دوه ډلی یو ځای کول (ب) یو قابل اعتبار اداری نظام او فوځ منځ ته راوستل (ج) په ولس او پرګنو کی نفوذ او ځای پیدا کول و.

د کارمل دزوال واضحه نښه هغه وخت څرګنده شوه کله چې د اپریل ۱۹۹٦ په ۲۷ نیټه دکمونستانو لخوا دعسکری کودتا په اصطلاح دثور دانقلاب داتمی کلیزی درسم ګذشت په مراسمو کی ونه لیدل شو ، په همدی ورځ دکریملن مرکزی نشراتی ارګان (پراودا) یوه مقاله نشر کړه چې په صفحې کی ئی لیکلی وو چې دکابل دکمونست ګوند مرکزی کمیټی یولړ تصمیمونه نیولی او په هغې کې د هغه څه سره سخته نا امیدی ښودل شوی کوم چې په اصطلاح دانقلاب د بطی کولو او وروسته پاتی کیدو سبب شویدی .

سیاسی ناظرینو ددغې مقالی څخه د کارمل دستوری دراتیتیدلو اټکل وکړ د یادونی وړده چې دهمدغه کال د مارچ په (۳۰) دکابل راډیودیو اعلان له مخی کارمل په یوه روسی خصوصی الوتکه کی دیو مختصر او غیررسمی سفر لپاره مسکو ته ولاړ .

کله چې دمی په لومړی نیټه په مسکو کی دیوی میاشتی تمامیت څخه کابل ته راستون شونو دکابل دهوائی ډګر څخه لاد باندی نه وو راوتلی چې د مرکزی کمیټی دیوی اضطراری غونډی لخوا دصحی و جوهاتو په بنا دکمونست ګوند دعمومی منشی له څوکی څخه معزول شو ، نوموړی دمرکزی کمیټی هغه غونډه کی هم برخه نه وه اخستی په کومه کی چې نجیب دده په ځای مقررشو په داسی حال کی چې داوه پنځوس کلن کارمل دسیاسی زوال نښی څرګند یدلی دنه دیرش کلن نجیب دستوری دراپورته کیدو علایم هم ورسره لیدل کیدل .

نجیب چې د افغانانو په منځ کی د غوائی په نامه باندی مشهور دی د محصلی په دوران کی دکارمل فکری او نژدی دوست وو .

نوموړی دکمونستی کودتاڅخه لږ څه وروسته دکارمل په ډیر اصرار سره دکمونست ګوند دمرکزی کمیټی د رسمی غړی په صفت و منل شو ، کله چې په ۱۹۷۹ کال کی روسانو پوځی یرغل راوړ او امین یی وواژه دکارمل په دستور نجیب د (کام) امنیتی دستګاه لغو او په ځای یی د کی، جی، بی په خیر دو حشتناک تنظیم «خاد» بنسټ کیښود کوم چې ددوه زرو په شاوخوا کی دکی - جی - بی دمتخصصیو نو لخوا داذیت په عصری وسایلو چې اکثراً دختیځ جرمنی څخه وارد شوی وی رهنمائی کیدله .

په تیرو څوکلونو کې دخاد سازمان دمجاهدینو سخت تر دښمن ثابت شویدی اکثراً یې دافغانستان دننه او بهر دمجاهدینو دقوماندانانو په له منځه وړلو کې څه بریالیتوب هم تر لاسه کړیدی دده همدا فعالیت وُ چې د کې - جي - بي درئیس جنرال ویکتور په پیشنهاد په ۱۹۸۵ کال کې د ی ددغه بدنام کمونستي گوند دمنشي په صفت وټاکل .

دروسانو لخوا دتش په نامه انقلاب دیو تولید په صفت نجیب هم هغه محدودیتونه لري کوم چې کارمل درلودل دافغانانو په سترگو کې نجیب هم دروسانو لخوا په افغانستان باندې دسیاسي استعمار دحاصلولو یو گوډاگی دی په خاد کې دده دکامیابو فعالیتونو له امله مسکو دده په نسبت خوشبین وو، خو اوس داسې بریښي چې افغانستان څخه دخپل پوځي یرغل په اخري گړیو کې مسکو د نجیب څخه مایوسه شوی دی

یو مبصر دنجیب دانتخاب په ورځ وویل چې (دکمونستانو سرنوشت خورا ډیر عجیب ښکاري ته د یرغلگرو حمایت وکړه کله چې دوی ستا په هیواد یرغل وکړی ته یې مرسته وکړه چې ستا دهیواد په زرگونو هیوادوال په قتل ورسوی کله چې ته په جنگ د خپلو وطنوالو په مقابل کې ناکام پاتې شوی نو کریملن دفعتاً په قهرشی مسکو ته دی دعوت کړی او هلته دې له سترگو نه غایب کړی) همدا کار له کارمل سره وشو افغانان نجیب یو اځې لهٔ دی امله «غویا» نه بولي چې دده جسماني ساختمان غوائي ته ورته دی بلکې قلبي شقاوت او بې شعوري او بې رحمي یې په داسې حال کې چې دیوه ډاکټر شهادتنامه یې په لاس کې نیولې تر غوائي لا زیاته ده .

دده دمقرری داعلان په ورځ په کابل کې وضع دومره سخته وه چې روسي قوماندانانو په ډیر عصبانیت سره ټانکونه راوښکل او په حساسو ځایونو کې یې ودرول .

د روسانو په فکر د نجیب بله نقطه د افغان مقاومت او مهاجرینو په منځ کې دخپلو ایجنټانو ننه ویستل وو ده په مسلسل ډول په پاکستان کې دبمونو چاودنې اونور تخریبي عملیات تر سره کړل ، ملي روغه جوړه یې اعلان کړه د مجاهدینو قوماندانانو ته یې مستقیم دعوتونه ور کړل حتی چې اسلام یې هم پرې نښود او په مکه معظمه کې یې د خبرو پیشنهاد وکړ خاد په کابل او یو شمیر نورو ولایتونو کې نو ی جماعتونه جوړول پیل کړل او درژیم لاس پوځي نیکي داماما نو په نوم وگمارل .

او پخپله یې هم دخلکو دفریب پخاطر په جامع جماعتونو کې دجمعې په لمونځونو کې گډ و ن وکړ ، خو لله الحمد دروسانو شوم اهداف بیا هم تر سره نشو ل او ورځ په ورځ دغه تپل شو ی ټولی د ملت په منځ کی تجرید شو .

د دی ماهرینو د و ینا له مخې کارمل اوس هم طالع مندوو چې ژوندی ووت داؤد دتره کی په لاس، تره کی د امین په لاس او امین د سور پو ځ د کماندو په لاس گورته وسپال شول اود نجیب دمحاکمې ورځې هم انشاء الله لر ی ندی

دکارمل طرفدارانو مظاهری وکړی او کله چې دکمونست گوند یو غړی د کارمل عکس ته دراشکلو لو په نیت گوته ورته کړی پداسی حال کی چې روسان هم ولاړوو دکارمل طرفدارانو نوموړ ی سخت وواهه ، روسانو یې فقط تماشا کوله اوله مداخلې څخه یې ډ ډه وکړه یو ه روسی عسکر پد غه ځای کی وویل چې هیڅ څوک یو معزول عمومی منشی ته اجازه نشی ورکولای چې دی معزول شی خو عکسونه یی لازوړ ندوی د افغانستا ن د چارو د ماهرینو دتخمین مطابق د نجیب منځ ته راتگ د روسانو لخوا پدی منظور وشو چې گوندی کله دوی خپل سور پوځ له افغانستان څخه وباسی د کابل درژیم ددوام چانس به زیات شی همدا راز روسانو فکر کاوه چې پاکستان به دکابل سره دجنیوانه دباندی مستقیمی خبری اتری وکړی خوداسی ونه شول کارمل ددامی یوی آلی حیثیت درلوده چې د عسکری یرغل په طوفانی ډراو کی ئی کارورکړ خو په تغیر شوو سیاسی حالاتو کی د روسانو په وړاند ی یی خپل قیمت له لاسه ورکړ او بیا بی د یو ی شلیدلی څپلی په څیر په ډیران کی گوزار کړ .

اقامه دولت وحکومت
ازنظر اسلام

نویسنده : عنایت الله « بلیغ »

قیادت مجتمع صالح برای هرفرد ضروری بوده ویقیناً مطلوب الهی(ج) از آفرنش انسانها تحقق غرضیست که بخاطر آن آفریده‌شده اندو آن عبادت است و عبادت یک کلمه عام وشامل بوده مقتضی تنظیم حرکات ، اقوال وافعال تصرفات و علاقات اجتماعی یک انسان است بر وفق شریعت اسلام .

تازمانیکه اجتماع صالح نباشد و قوه ایکه اداره شؤن امت را براساس قواعد شرعیه و احکام منصوصه و مستنبطه موافق قواعد اجتهاد سلیمه عیارنه نمایدمسلمین قادر نخواهند بود تانگارش حیات خود را بصبغهٔ اسلام مزین وکاروان بشریت را بسوی خیر و صلاح رهبری و از لنجزار فساد و منکر نجات یابند .

پس مجتمع صالح عبارت از مجتمعیست که قایم به اساس معانی ، افکار و مناهج اسلام بوده و مجتمع فاسده و منکر عبارت از اجتماعیست که مغایر اساس عقیده اسلامی بناء شده باشد .

منهجیکه قـدرت اعطاء و صف معروفیت و صلاحیت و منکر یت و فساد را برای هرفعل ، ترک آن میدهد یک حکم شرعیست و حاکم مطلق خداوند است (ان الحکم الا لله) نظریات فقهای اسلام در مسایل فرعی و اجتهادی برای استنباط و تعرف حکم و حتی وبرای کشف حکم شرعی است حیثیت انشاء و ابداع را ندارد بهمین مناسبت درصورت تثبیت خطاء اجتهادی نظریات شان متروک است .

منکر بودن ویا معروف بودن یک امر به اعتبار طبیعت همان امرو حکم شرعی (تصریحی و استنباطی) بوده کثرت آراء در ذات خود دلیل قاطع وراجح بصواب نبوده قلب آراء در ذات خود دلیل قاطع وراجح بخطا وفساد

نیست ـ انسانها و همه داشتنی های شان مخلوق خدای لا شریک اند و دنیا با همه ساز و برگش صرف وسیله بوده بهدف و غایه اصلی و آن (سعادت عظمی آخرت) است.

تشریع تنها حق خداوند است کسیکه به آن منازعه میکند و درقانون گذاری در سرنوشت مخلوق مداخله میکند یقیناً کافر و مشرک است ـ انقیاد سمع و طاعت ـ از تشریع الهی وجیبه هر فرد مؤمن است و اصلاً مشروعیت قتال و جهاد برای اقامه صلح و ازاله فساد بوده فلهذا قتال حسن لذاته نیست بلکه حسن لغیره است که اقامه حکم خدا در روی زمین است نه برای کشتار کفار و اکراه شان به اسلام وقتیکه حکم و سلطه سلطان مطلق نظام را بدست گرفت و دارالاسلام تثبیت شده کفار میتوانند بحالت خود با قبول پرداخت جزیه در زیر سایه نظام اسلامی با کمال امنیت زندگی کنند.

دولت و حکومت اسلامی بزرگترین وسیله است برای تطبیق نظام الهی در روی زمین تطبیق حکم الهی بالای هر فرد امت واجب است پس پس اقامهٔ حکومت بالای هر فرد امت واجب است.

حکومت قوه و عنصر یست که قیام دین به اساس وی پی ریزی میشود از فرایض اسلام و دستور صریح قرآن وسنت و اجماع امت و طبعیت احکام شرعیه اسلامیت احکام جهاد، اقامه حدود و عقوبات اقامه عدل بین مردم به قوت و سلطه و نصب امارت ضرورت دارد ازینکه امت مسلمه مکلف به تنفیذ امور شرعیه است و تنفیذ سلطه شرعی بشکلی اجماعی متعذر است پس امت صاحب حق است در اختیار نصب وانتخاب دولت که سلطه شرعیه را نیابتاً از امت تنفیذ نماید.

برای انتخاب و نصب ریاست دولت یک نظام محدد موجود نبوده امت میتواند مباشرة ازین حقوق خود استفاده وبطور شرکت جمیع افراد غیرمستثنی منه« اصغار، مجانین، فساق مشهور و افراد غیرمسلم» سهم گرفته رئیس دولت را انتخاب نماید ولی طریق راجح و مستدل برای انتخاب رئیس دولت تشکیل شورای اهل حل وعقد است تا امت از حق رای خود بطور غیر مباشر بوسیله نائبین و وکلای خویش سهم شده و شورای اهل حل و عقد در روشنائی فرمایشات اسلامی بادر نظر داشت شرایط فقهی امارت که فقهای اسلام طرح نموده اند امیر را انتخاب نموده وبه این طریقه اجماع امت آمده.

خلافت ابوبکرصدیق رضی الله عنه به اساس بیعت محدود صحابه جلیل القدر در مدینه منوره تثبیت شده و خلافت حضرت عمر رضی الله عنه نیز بوسیله شورای اهل حل و عقد به سند خلافت رسیده بود صدیق اکبر رضی الله عنه خواستش بود تا عمر رضی الله عنه را جانشین برگزیند و تعینش را با شورای اهل حل وعقد و صحابه قابل قدر درجریان گذاشته بود و ایشان اظهار رضایت و توافق را به خدمت ابوبکر صدیق رضی الله عنه جهت عقد امامت حضرت عمر رضی الله عنه بعد از ابوبکرصدیق رض نموده اند.

وخلافت حضرت عثمان رضی الله عنه توسط شورای شش نفری از صحابه کرام تثبیت شده است.

بهمه حال جمیع افراد امت ویا شورای اهل حل و عقد که نائبین امت اند در حریت رأی خویش محدودیت های دارند وآن عبارت انداز ـ

۱ ـ حق افراد و یا شورا در اظهار آراء شان تنفیذ امر شریعت و خالصاً لله و برای خیر و سعادت مصلحت ـ امت اقامه معروف، و ازاله منکر را نمایند.

۲ ـ اظهار رأی در تصرفات احکام شرعیه براساس علم وفقه بوده تا معروف و منکر را از آئینه شریعت تمیز کرده بتواند هرگاه دارای چنین اهلیت نباشند حق رأی را در احکام شرعیه ندارند و انتخاب رئیس دولت یک امر شرعیست.

۳ ـ اظهار رأی برای احداث فتنه، ومقابله مخالفین وبمیدان کشاندن منازعات و استفاده جوئی های نامشروع صورت نگیرد

ازینکه طریق قوی و راجح در انتخاب امیر و یا رئیس دولت اهل حل وعقد بوده بهتر است در مورد شناخت اهل حل وعقد دقت بعمل آید.

فقهای اسلام در مورد شخصیت اهل حل وعقد وشناخت آنها نگاشته اند که اهل حل و عقد عبارت از: شخصیت

هایست که مستجمع شرایط آتی باشد .

۱ - شخصیت عالم به شروط معتبره امارت و امیر وصلاحیت‌های آن .

۲ - شخصیتی دارای عدالت اجتماعی ومرجع در امور، حاجات و مصلحت عامه .

۳ - شخصیت صاحب قوت و امانت استقامت وحسن رأی ومعرفت امور وحریص بمصالح امت از شروط فوق برمی آید که شخصیت‌های اهل حل و عقد عبارت اند از شخصیت‌های عالم بمعرفت شئون رعیت و امارت ودارای قوت و حسن رأی تقوی و عدالت وشخصیت ثقه متصف با اخلاص و استقامت بین امت باشد .

علایق اهل حل و عقد باامت علایق نیابت بوده فلهذا تشکیل شورای اهل حل و عقد مربوط به امت است امت میتواند بانظرداشت محدودیت ها حق رأی شورای اهل حل وعقد را سازد تا آنها نیابتا به انتخابات رئیس دولتی که مستجمع شرایط امارت باشد نظر ورأی بدهند وشرایط امارت که از نظریات فقهای اسلام تراوش کرده عبارت اند از :

۱ - امیر مسلمان و مکلف بوده بخاطر یکه اصلاً دولت برای تنفیذ شریعت وحراست دین ودنیابوده بغیر مؤمن سپارید نمیشود و هم امارت عظیمترین مسئولیتهای است بر کفار مجاز نیست تا برمسلمانان حاکمیت نمایند « ولن یجعل الله للکافرین علی المؤمنین سبیلا

۲ - امیر وحاکم باید مرد باشد امارت زن مجاز نیست .

قال رسول الله ﷺ (لن یفلح قوم و لو امرهم امرءة) وهذا حدیث صحیح رواه البخاری .

۳ - امیر عالم به احکام شرعیه بوده بخاطریکه مکلف به تنفیذ شریعت است.

٤ - عادل متقی ورع، عارف بامور سیاست وشئون حکم شجیع وبا جرأت در تطبیق اقامه حدود اسلامی صاحب درایت بمصالح امت و حریص به تطبیق و تحقیق آن باشد .

۵ - قریشی نسب باشد .

قال رسول الله (الائمة من قریش)

ابن خلدون میگوید : امیر نسباً از قومی باشد که صاحب ... وشوکت بوده وملت به قدامت فضیلت وزعامت آن بدون منازعه معترف باشند وقوم قریش درعرب دارای چنین امتیازات بود.

غرض از اقامه دولت اداره شئون امت (رعیت وراعی) به اساس قواعد شرعیه تصریحی استنباطی است وظیفه دولت قال الفقها، (الامامة موضوعة للخلافة النبوه فی حراسة الدین وسیاسة الدنیابه) و مراد از حراست حفظ دین و تنفیذ آن در تمام امورات ملی وبین المللی است صلاحیت دولت مقیده و —— در احکام شرعی صلاحیت آن کامل بوده الزام آن برای غیر «شوری» مجاز نیست حضرت عمر بن عبدالعزیز بعد از تصرف ولایة الناس فرمودند انما أنا متبع ولست بمبتدع .

شورا و مشوره حق امت بوده رئیس دولت وجیبه دارد تابا امت در مسایل غیر منصوصی مشوره نماید قال ابن عطیه والشوری من قواعد الشرعیه وعزایم الاحکام من لایستشیر اهل العلم والدین فعزلهٔ واجب .

صاحب تفسیر جصاص فرموده اند - بر رئیس دولت و اجب است تا در امور دین ودنیا که صراحت نص در آن نباشد باامت استشاره نماید مثل اعزام جیوش ، اعلان حرب عقد معاهدات داخلی و خارجی توظیف اشخاص در مناصب مهمه دولتی و تشخیص آنها در رو شنائی قرآن (ان خیر من استأجرت القوی الامین) وشوری درپیش برد امور دولتی بین امت ودولت از اهمیت خاصی برخوردار بوده ویک وسیله برای کشف حق است البته مفاهمات، مذاکرات ومناقشات به اظهار حق کمک میکنند .

شوری تذکیر امت بوده به اینکه اصلاً صاحب سلطه امت است و رئیس در تنفیذ شریعت نایب آنها است. وتذکیر بردولت وحکومت بوده که ایشان حیثیت وکیل و نایب را از امت در امر شریعت دارند ودرجلوگیری دولت و حکومت از طغیان که طبیعت انسان است رول مهمی دارد و اجبات دولت اسلامی - عبارت اند از -

۱ - اقامهٔ عدل بین مردم وجلو گیری از ظلم وتجاوز داخلی وخارجی -

۲ - اشاعه امن واستقرار امنیت تا

باشندگان دار الاسلام با کمال امن و امنیت معیشت نموده آبرو عزت و اموال شان محفوظ باشد.

۳- تهیه ما یحتاج الناس مثل اختراعات صنا عات و زمینه زند گی مر فه برای مردم و تربیه مردم بعلو م وفنون مختلف برابر با مقتضیات عصر .

٤ - استثما رخیرا ت البلا د - از قبیل کشف واستخراج معادن ، حفر انهار آبا د ی زمین ها ی لامزروع تهیه ما یحتاج الناس در زراعت طبق مقتضیات عصور - . . . . طوریکه از ملا حظا ت گذشته مفهوم گرفته میشود . که قوام مجتمع صالح وجیبه هر فرد است و قوام مجتمع مذکور دراثر تنفیذ امر خداوند درروی زمین صورت میگیرد و تنفیذ شریعت ارتباط اعظمی به اقامه دولت وحکومت اسلامی داشته بناءً ملت مجاهد و ایثار گر افغانستان برای اعمار جامعه صالح ومحو هرنوع فساد و تجاوز درمدت ده سال جهاد مسلحانه و در آن بیش از یکنیم ملیون شهید وهزاران معیوب و معلول و ملیو نها مهاجر داده ضربات کوبنده برمتجاوزین اشغالگر روس وارد واز سر زمین مجاهد پرور مابفظیعت ورسوایی رانده شدند و عنقریب ان شاءالله مزدوران ملحد آنها که شریعت ایشانرا زندیق منافق ومرتد می خواند در قهر وغضب خداوند فر و رفته و طن عز یز ما را از لوث شان پاک میگرددوزمینه اجتماع صالح و تنفیذ امر خداوند واقامه حکومت اسلامی درافغانستان میسر گردیده است فلهذا شورای قیادی جهاد افغانستان حسب ادای وجیبه خویش به نماینده گی از امت مجاهد ضرو رتاً و عجالتاً (الضر و را ت تبیح المحظورات) شو ر ی مشو ر تی جها د افغانستا ن را که اغلب شان از شخصیت های برجسته ، علمی ،نظامی وجنـدی داری حسن نیت وتقوی و استقامت که درقطار شخصیت های اهل حل وعقد محسوب می گر د ند و به اساس طرح د قیقانـ شخصیت های کمیسون ١٤ نفری شوری مذکور ریاست د و لت تحت ریاست برادرمحترم حضرت صبغت الله مجددی وریاست حکومت وصدارت تحت ریاست برادر محترم استادسیاف منتخب شده اقامه حکومت یک وجیبه کفائی بوده ازذمه د یگران امت سا قط دولت و حکومت هذا یک، دولت و حکومت اسلامی وواجب الاطاعت است - ازتمام برادران وخواهران مسلمه شرعاً تقاضا میشود تا ازین حکومت اسلامی الی آمدن حکومت منتخب اسلامی تاپای جان پاسداری نمایند ازدولت وحکومت مؤقت مجاهدین تو قع میرود تا تحت ارشادات شریعت اسلام ایثار وفداکاری نموده ازخود خواهی ها و پـذیر ش انسانهائیکه اصلاً پیو ند نسبی به آنها داشته ووزن کار وفعالیت را ندارند درمناصب مهمه بخدمت نگمارند کارها رابه اهل آن سپاریده وملت مجاهدرا در عقب دروازهای نشسته خویش ذلیل نساخته به صحیفه امید امت مجاهد ما خط سیاه کش نشود درغیرآن ملت مادر مکتب حریت تربیه شده به جرأت ایشان خواهد گفت اگرمخالفت باخداورسول کردید سر شمارا باشمشیر برابرمیکنیم و تمام اعمال تان تحت کنترول وبررسی ۲٤ ساعته ملت مجاهد ما قرار دارد ازقوماندانان بی بی سی وصدای امریکا وبچه های تایچرلندنی توقع می رود که به پروپاگند های کاذبانه ومزدورانه خود پایان بخشیده چهره های کاذبانه شان نزدملت مجاهد ما تشخیص شده است .

امت مجاهد افغانستان میدانند دولت وحکومت شان به اساس مقتضیات شریعت اسلامی بمیا ن امده و اطا عت

از آن عمل معروف و وجیبه اسلامی است هرخس و خاشاک نمیتواند که صفت منکریت را بر حکومت اسلامی داده و آنرا تردید کنند و آنها شرعاً حق تردید را نداشته بلکه خود شان مباح الدم وباغی اند -

در خاتمه در و د به ارواح شهدای گلگون کفن خفته بخاک افغانستان و سایر شهدای اسلام بسنگر داران عزیز جهاد افغانستان وسایر مجاهدین اسلام حاکم باد حکومت مؤ قت مجاهدین افغانستان پاینده باد اسلام .

تورمخي غلامان

نجیب الله نصیر

د ۱۳۵۷ کال دثور د کرغیړنی او خونړۍ کودتا په کیدلوسره دافغانستان خپلواکی، ارضی تمامیت اوناپیلتوب له منځه لاړ او دخلق دکمونست او ملحدگوند له لاری روسانودافغانستان دولتی موسسه اشغال اودهیواد سیاسی سرنوشت او مقررا ت پخپل لاس کی ونیول په لومړی سرکی دروس غلامانو ځانونه ددولت اوملت مشران معرفی کړل اوخلکوته یی داسی وښودله چی دوی خپلواک اوناپیلی سیاست چلوی خو واقعیت دادی چی دثور کرغیړنه کودتا دروسانو په مستقیمه مرسته او ددوی ترڅارنی لاند ی سرته ورسیده او دخلقی غلامانو ټول کړه وړه هم دروسانو له خوارهبری کیدل ، دثور کودتا دروسانوددوستی، ښه گاوندیتوب اوپه سوله کی دگډژوندپه تیر ایستوټکو الفاظوکی ٦۳ کلونوغولولواودسیسو نتیجه وه اوپه افغانستان،روسیه اونړی کی یی داسی انگازی خپری اوداسی انعکاس یی وکړ چی هغه د کمونیزم او روسی سره استعمار درسوایی سبب او دافغانستان دمسلمان ملت داسلامی جذبی ، میړانی ، شهامت اوسرښندنی ښکارند وی وگرځید . دثور دکودتانه لږی ورځی وروسته زمونږ د مسلمان ملت لخوا دهیواد په هره څنډه اوهر گوټ کی وسلهوال جهاد پیل شوځکه دافغانستان مسمان ملت چی ټول عمر یی آزاد ژوند کړی دهیڅ لوی یاواړه قدرت دغلامی جغ ته یی غاړه نده کیږه کړی نو دجهاد په پیل کولو سره یی دبل چا په متو ولاړ حکومت ئی عملاً ردکړ اوخپل دین ، عقیدی خپلواکی اراضی تمامیت او آزاد حیثیت داعادی لپاره یی د جهاد تاوده سنگرونه جوړ او دجهاد دگرونه یی تاوده ساتلی دی دجهادپه پیل کید وسره دخلق اوپرچم په کمونستی مزدورو باند و نو کی اختلاف زیات شودپرچم دباند غړی یو یو د سفیر تر نامه لاندی له هیواده تبعید کړای شول ددی سره جوخت زمونږ د مسلمان ملت جهاد ورځ په ورځ پراحتیا موندله او سنگرونه لا پسی تودیدل،زمونږ دجهاد پیاوړتیااو زمونږ دمسلمان،قهرمان اوباتور ملت مقاو مت او سرښندنی بیسواده استاد (تره کی) اووفادارشاگرد(لعین)په خپلو منځوکی سره واچو ل هغه استاد چی

خپل ځان اوشاگرد یی نوک او اوړی گڼل اوهغه شاگرد چی خپل استاد او کمونست گوند یی روح اوجسم گڼل د جها د دگرم سیلاب په څپوکی ډوب شول دخلق د باند روح (تره کی) ساه تربالښت لاندی وختله اووفادارشاگرد امین حفیظ د مصئونیت ، قانونیت او عدالت ترشعارلاندی خپل ټول جنایات په نابغه استاد ور وتپل خو د ی هم

دافغانستان د جهاد څپو پسې واخیست اود روسانو ترپښو لاندی یې تورو کندو ته ښکته کړ .

هو ! زمونږ دمیړنی اوقهرمان مسلمان ملت مقاومت د روسی غلامانو حکومت د سقوط پولې ته ورنږدې کړ او هره شیبه ددې امکان موجود ؤ چې کمونستی رژیم له پښو غور ځیری هماغه ؤ چې روسانو په ډیره وارخطائی درژیم د بقا او پایښت لپاره په ډیره بیشرمی پرته لدې چې دنړیوالو قوانینو مراعات وکړی دهغو په خلاف یې پر افغانستان وسله وال تیری وکړ او خپل یولک او شل زره کسیز پوځ یې چې تر پزې پورې مسلح وو په گران افغانستان باندې را مرش کړ او د کاجی بی په دوزخی سازمان کې تربیه شوی مزدور کارمل یې په ټانکونو کې سپور دتوپونو او طیارو په بدرگه کابل ته راووست او پرځوکۍ یې کښیناوه او د روسانو ترمستقیم هدایت او څارنی لاندې یې په کار پیل وکړ د روسانو په مستقیم تیری سره زمونږ د مسلمان ملت مقاومت لا پسې پیاوړی او غښتلی شو د هیواد داسی ځای او داسې سیمه پاتې نشوه چې هلته دې دروسانو او د هغوی د مزدور رژیم په خلاف جهاد نوی پیل شوی ځکه که پخوا روســانو خپل غـلامان د افغانستان د خلکو په سرنوشت باندې حاکم کړځولی ؤ خواوس یې دهیواد ټول واک او اختیار په خپل لاس کې اخیستی ؤ نو زمونږ مسلمان ملت پدې پوهشو چې روسان او دهغوی غلامان غواړی له گران هیواد څخه د اسلام سپیڅلی دین محو او پرځای یې دکفر او الحاد مفکوره ټینگه کړی نوهماغه ؤ چې دی باتور مسلمان او قهرمان ملت دجهاد گرم سنگرونه لا پسې تاوده کړل او د روســانو او د هغوی د غلامانو په سربې د هیواد په گوټ گوټ کې وژونکی گوزارونه زیات کړل د روســانو او د رژیـم پرپوستو او تأسیساتو باندې یې خپلی حملی زیاتی کړی او ورځ په ورځ یې زیاتی پوستی کندکونه ، غونډونه ، ولسوالی او حتی ولایات یو په بل پسی فتح کړی او بې شمیره وسلی او مهمات یې ولجه کړل دغه لړده روانه ده او لەیوی ورځی څخه بلی ورځی ته زیات بریالیتوبونه او فتحی دمجاهدینو په نصیب کیدلی او دښمن له شرمونکی ماتی اورسوائی سره مخامخ کیده ...

روس لس کاله په خپل ټول نظامی قوت سره په افغانستان کې د مجاهدینو دله منځه وړلو او دمقاومت دتکولو هڅې او کوششونه وکړل او ډیر وجنگید خو بریالیتوب یې ترلاسه نه کړ نوپوه شو چې په تاوده جنگ کې نشی کولای خپل هدف ته ورسیږی نو دیپلوماتیـکی او سوړ جنگ تـه یې مخه کړه ځکه دببرک کارمل لاپو او د کمونستانو د تبلیغـاتو او زور چلولو د افغانستان خلک تسلیمیدو ته مجبور نشوای کړای ، کمونستان چې په هیڅ ډول معنوی ارزښتونو او اخلاقی معیارونو باندې عقیده نه لری دانسان څخه دوسیلی په توگه ترهغې کار اخلی چې کیدای شي خو چې کله تری داستفادی امکان خلاص شي هغه لری کړی او پرځای یې بل څوک اوبله ځیره رامینځته کړی . نوهماغه

ؤ چې د ۱۹۸۶ کال د می په میاشت
کې بې کارمل لرې او پرځای یې نجیب
د خلق د کمونست گوند د عمومی
منشی په حیث مقرر کړ هغه نجیب
چې دده دریاست په وخت کې زمونږ
په زرگونو مسلمان وطنوال د خادد
فعالینو دانسانی ضد، حیوانی او وحشی
اعمالو ښکار شول ، نجیب دافغانستان
دمسلمان ملت جهاد او مقاومت
وپیژانده او دا جنگ یې وروروژنه
وبلله، مجاهدینو ته یې داشراروپه ځای
تیروتي او مهاجرینو ته یې مرورشوی
ورونه وویل خودی کارونو یوه هم
نتیجه ورنکړه ځکه زمونږ مسلمان ملت
نجیب ډیرښه پیژانده او پدی پوهیدل
چې د مظلوم ملت سره یې څومره
جفا کړیده او د مکر ، چل او فریب
یوه توته ده او روسانو هم په همدی
خاطر ددی کار لپاره وگماره چې د
ننواتو او غولونې په کار کې ماهر
او دجنگ ترخنگه له نورو لاروچارو
نه هم کار واخلی ، په رښتیا هم
روسانو په خپل گمان ددی کار لپاره
مناسب سړی پیدا کړ خو زمونږ ملت
کوم ویده ملت ندی لس کاله جهاد
لس کاله هجرت ، خواریو ، دربدریو
زمونږ ملت ته تجربه ورکړیده داملت اوس
خپل دوستان او دښمنان ښه پیژنی
دوی پوهیږی چې دخدای لاره کومه
او د شیطان لاره کومه ده نونجیب
چه هره دسیسه په کار واچوله نتیجه
یې ورنکړ، او په خپل هر پلان کې
له ناکامی او شکست سره مخامخ شو
جهاد لاپسې تیزشو ډیروتنکیوځوانانو
خپلې پاکې وینې د خدا ی د نوم ډ
اوچتوالی په لاره کې توئی
کړی ، کورونه یې وران شو ل ډیر
خلک له وطن څخه وتلو او هجرت ته
مجبور شول خوله خپل هود او عزم
څخه وانه و و ښتل او د ښمن ته یې
سرټیټ نکړ بلکه په ویاړ او افتخار سره
یې روسا ن په تورمخ له وطن څخه
شړ و ته مجبورکړل او دنیا ته یې دا
وښودله چې دد نیا هیڅ کفر ی طاقت
نشي کولای د ایمان اوعقیدی په وسله
سمبال ملت باندی برلاسی شی . ، هو!
لکه څنگه چې زمونږ مسلمان او قهرمان
ملت دشلمی پیړۍ په پیل کی په توله
نړۍ کی دلومړی ځل لپاره دانگلیس
دتور استعمار توره کړی ماته کړه دادی
دهمدی پیړی په پای کی یې دلومړی
ځل لپاره دنړی خور سره استعمار سره
کړ ی دړی وړی کړه او دافغانستان
مسلمان ملت اوټول اسلامی امت ته
یې په کفر اوالحاد باندی د بری ویاړ
وگاټه .

هو ! اوس چې دروس شرمیدلی
اوتورمخی غلامان په وچ میدان پاتی
شو ل څنگه به وکو لا ی شی چې د
قهر ما نو او په خدا ی مینو باتورو
مجاهدینو له پنجو څخه ځانو نه راوباسی ؟
څنگه به وکولای شی په پوځی توگه
دځان دفاع وکړی؟ ښکاره خبره ده چې
د خپلو روسی بادارانو په موجودیت
سره یې چه ونشو کولای د مجاهدینو
په وراندی مقاومت وکړی اوخپل شوم
هدف ته ورسیږی نو اوس خو ابدآ نشی
کولا ی ځانونه د مجاهدینو د فیصله
کو و نکو گذارونو څخه بچ کړی ځکه
چې له مجاهدینو سره دخدای نصرت
اوکمک موجود دی اولکه څنگه چه
تراوسه یې دخدای په مرسته روسانو
او دهغوی غلامانو ته خوله ماتونکی
گوزارونه ورکړی انشاء الله چه په آینده
کی به یې هم خدای ملوی خوخلقان
اوپرچمیان چه په خدای ایمان نه لری
او د ر و سا نو په مر سته یې تکیه
ده اوهغوی هم تری کله بارکړه او
په رانه میدان بې پریښودل ښکاره ده
چه ددوی وروست رژیم به انشاء الله
ډیرژر دقهرمانو اوسپیڅلو مجاهدینو
لخوا رانسکوریږی او پر ځای به یې
د افغانستان دمجاهدینو جوړی شوی
مؤقت اسلامی حکومت دریږی ځکه
چی همدا اوس دهیواد په سلو کی ۹۰
خاوره دمجاهدینو په کنترول کی ده .
زیات ولایات دمجاهدینو لهخوا
فتح شوی د جلال آباد ښار محاصره
تنگه شوی اوکه خدای کول په څو
ورځو کی به دمجاهدینو په لاس فتح
شی . دکابل ښار هم له څلورو خواو
څخه محاصره دی اود واوری له الوتو
اودیخنی په له منځه تللوسره به دکابل
په ښارباندی دمجاهدینو یوځائی اوگډ
عملیات په پیل اودکابل مزدوررژیم به
دخدای په مرسته اوکمک رانسکوریږی
او پرځای به یې د مجاهدینو اسلامی
حکومت چه دافغانستان د ټول مسلمان
ملت د زړه غوښتنه ده قایمیږی او د
هیواد دغرو اورغو دپاسه به انشاءالله
د توحید سپیڅلی بیرغ رپیږی .

ایا داهم اخلاق او ترقی ده ؟

د انگلستان سپورتی موسسی (ویلیم بلډون) د فټبال ټیم ۹ تنه غړی پدی تورن کړیدی چی دوی د ټول انگلستان د کپ گټلو وروسته د یوی خیریه مؤسسی سره کمک پخاطر د یوی مسابقی په ترڅ کی خپل ځانونه داسی لوڅ لغړ کړی وو لکه په همدغه ورځ چی د مور له گیډی دنیاته راغلی وی، چی دهمدغی ورځی په سبا یو زیات تعداد ورځپاڼو او مجلو دغه بربنډ عکسونه د خپلو لمړیو صفحو په منځ کی دخپل تجارتی بازار د تودولو لپاره چاپ ته رسولوو

د یادونی وړ ده چی تیره ورځ د انگلستان په شمال کی رفټ دیوی مسابقی په پای کی د هرج مرج له امله ۹۳ تنه مړه او له ۱۷۰ تنوزیات تماشاچیان زخمیان شویدی چی دبی بی سی راډیو له قوله را دتیاد دغه ملک په سپورتی تاریخ کی له ټولو ناوړه پیښو ده نو اوس پوښتنه داده چی د شلمی پیړی د پرمخ تگ د تیگدارونو د وحشت هم اخلاق او ترقی ده ؟

اتیا میلیونه سپی او بد بخته هندوان

وروستی احصائیه ښار کی چی د هند په مختلفو سیمو کی هندویان د لیونو سپو په داړه ماری اوله هغی هغی څخه د را پیدا شوو ناروغیو څخه ډیر په تنگ راغلی دی او د تیښتی لیاری ورڅخه ورکه کړیده ځکه په هند کی چی اکثر اوسیدونکی یی د بت پرستی تر څنگ د غواو خوشیانو، مارانو او حتی سپو په عبادت باندی بوخت دی او د اسلام او انسانیت له جادی وتلیدی اونشی کولای چی په پوړتنیو حیواناتو او خوځندو باندی د مرگ لاس پورته کړی ځکه هند ولس مذهب اودرمسال زیر لمنی لمنی مشران یی په کلکه مخالفت کوی .

د پورتنی احصائی له مخی اوس په هند کی د سپو شمیر چی لاری او کوځی وربانذی ډکی دی اتیا ملیونو ته رسیږی چی په لری پرتوکلو او ښارونو کی یی یو زیات تعداد په وژونکی ویروس باندی ککړ دی چی د ډیرو خلکو دمرگ سبب شویدی .

(خواره زهر)

دمصر مشهوره ورځپاڼه الشعب (ولس) د خپلو مؤثقو خبری منابعو له خولی لیکی: چی د اسرا نیلو د استخبار اتی مؤسسی (موساد) مدیر ۹۲۷ تنه یهودی پیغلی چی د ایدز په مهلک مرض باندی ککړی دی دی تهیی هڅولی دی چی بایدمصر او ځینو نورو عربی هیوادونو تهولاړی شی تر څو ددغه قاتل مکروب په خپرولو سره چی تر اوسه یی علاج ندی موندل شوی د ځوانانو او د ولسی مسئولینو په منځ کی یوډول د بی امنیتی او تشویش فضا ایجاد کړی ځکه یهودان غواړی چی د عربوسره د احتمال جنگ په صورت کی غوڅ بری تر لاسه کړی د موسا د مشر پدی خبره ټینگار کوی چی مصر ته ددغو پیغلو لیږدول چی دخوړوزهرو حیثیت لری د دوی ډیر مهم عسکری اهداف تر لاسه کولای شی کوم چی د وسلی په زور امکان نلری .

د یادونی وړ ده چی اسرائیلی تورستان او سیدانیان پهډیره اسانی سره کولای شي چی د مصر د سیاحت او سیلگری ویزه تر لاسه کړی .

په بریطانیا کې جرایم سخ په زیاتیدو دي

د برطانیی د داخله چارو وزیر (دوجلاس هیرد) اعتراف کړیدی چه د جرمونو د مر تکبید و سطحه ورځ په ورځ مخ په زیاتیدو ده .

نو موړی وزیر ددی زیاتوالی اصلی علت وزگارتوب او په مخدره وادو عادت کیدل بولی، نوموړی دمطبوعاتی و سائلو، مدرسو او عبادتخانو څخه غوښتنه وکړه تر څو د جرایمو د مخنیوی پههکله دحکومت سره مرسته وکړی په یوه بل خطر ناک راپور کی چه د وزارت خارجه لخوا نشرته سپارل شویدی ویل شویدی چی د انگلستان په کوڅو او ښارونو کی دهری دقیقی پهدوران کی شپږجریمی

صورت نیسی او ویل شویدی چه د ورم کال په پرتله پرو سږ کال کی ۷٪ د جرائمو په حجم کی زیاتوالی راغلی دی .

او په تیر کال کی د جرایمو شمیر دری میلونه او اته سوه زره ته رسیدلی دی چی د غلا جریمی ۲۴٪ او د غصب حالات ۶٪ زیات شویدی دکارگرانو دگوند یو ویاندوی څرگنده کړیده چه دجرایمو زیات والی ددی خبری څرگند ثبوت دی چه دبرطانیی خلک د قانون احترام نه ساتی او دا تول د محافظه کار گوند د غلطی پالیسی نتیجه ده .

مواد مخدره فاجعه جوانان عصر

در تحقق مدهشی راجع بمواد مخدره در لبنان اعلان گردیده است که نسبت اعتیاد به مواد مخدره در لبنان به اوج خود رسیده است ودلیل این اوج گیری پیوستن جوانان به صفوف ملیشه ها وسرعت روز افزون بیکاری خاطر نشان گردیده است .

تحقیق متذکره می افزاید که تاکنون مقداری زیادی چرس وافیون وهیروئین در لبنان تولید گردیده که مقدار آن یک ونیم ملیون کیلو گرام تخمین شده است .

در کتابیکه در مورد مواد مخدره و معتادین آن طبع گردیده آمده است که ۱۳٪ از مردم لبنان به مواد مخدره عادت کرده اند . نویسنده کتاب در یک تقریری که به نماینده گی خبر گذاری کویت تقدیم نموده متذکر گردیده است که ارقام متذکره صحت داشته و در تدوین آن از مؤسسات احصائیوی معتمدی استمدادجسته‌است این کتاب که بعنوان (مواد مخدره فاجعه جوانان عصر) به رشته تحریر در آمده است می افزاید که اکنون در لبنان ۱۷ فابریکه بزرگ مصروف تولیدات مواد مخدره میباشد و تعداد معتادین آن به ۳۴۰ هزار شخص رسیده است که از آن جمله صد هزار طفل که سن شان بین ۱۰ - ۱۲ سال میباشد به مواد مخدر ادت کرده اند .

در مورد مساحت زمین که جهت زراعت مواد مخدره اختصاص داده شده است کتاب می افزاید که درسال ۱۹۸۴ به ۱۵ هزار هکتار زمین می رسد که از مساحت متذکره ۳۸ تن چرس و ۱۲۰ کیلو گرام روغن چرس بدست آمده است .

۲۱ ملیون جریمه در سال ۱۹۸۶ در جاپان رخ داد

جاپان در سال ۱۹۸۶ شاهد ۲،۱ ملیون جرائم رسمی بود و در صورت استثناء حادثات ترافیکی که در نتیجه بی پروائی و اهمال در یوران رخ میدهد تعداد جرائم انجام شده به ۱،۵ حالت میرسد در تقریری که از طرف وزارت عدلیه جاپان منتشر گردیده آمده است که این تعداد جرائم در سال ۸۶ بعد از جنگ دوهم جهانی بزرگترین رقم جرائم را تشکیل میدهد .

در تقریر ارقام جرائم دزدی و سرقت ۸۲٪ از مجموع ارقام جرائم راتشکیل میدهد .

در تقریر آمده است که ۳۹۹ هزار مجرم محبوس گردیده که درآن جمله ۱۸۰۰۰ شخص که عمر شان ۶۰ سال زیاد است شامل می باشد .

اخلاق وعاطفه درغرب

اگر زن امریکی شیلی کارتر که ۲۰ سال عمر دارد فاقد معنی مادریت وعطوفت است پس همچنان دو جوانی که مرتکب جنایت شده اند فاقد معنی انسانیت‌اند شیلی کارتر دو نفر مجرم هر یک کلیف روینسون ۲۱ ساله ومارک‌ولیام ۲۲ ساله را بر تجاوز جنسی بر طفل شش ساله اش در مقابل اندک‌مالی و چند گرام چرس با مجرمین مساعدت نموده جهت انجام عملیه اعتداءطفلش راتشویق مینمود .

مادرکلان‌طفل از حالت‌پریشان طفل رنج برده و طفل‌را جهت‌معاینه طبی به داکتر اطفال اعزم نمود که بعد از معاینه مشاهده گردید که به اعتداء جنسی وحشی مواجه گردیده است .

